wyaarh.ashnaghar@gmail.com

HAMNA PUBLICATIONS

Oct'2012

THE MONTHLY WYAARH ASHNAGHAR

چیف ایډیټر
حیات روغانے

میاشتنے
ویاړ
اشنغر

# قام پیاوطن

# بند یز

YouTube



کرکیله کښې د
افغانستان پرمختګ

## د بیان د ازادۍ په نوم دې
## د مذهب اؤ پېغمبرانو
## سپکاوے جرم ؤمنلے شي





# د ملل متحد
# اووۀ شپېتمه
# دستوره اؤنړۍ

د امریکا په ضد
جنوبي وزیرستان
کښې احتجاج.....

سپریم کورټ کښې
د باغي بلوچستان ګیله

اول دې غوا راسره یؤوه
اوس په مړوند مخ پټوې چې پېغله شومه

د وفاق معنیخېزه خاموشي

NFC
AWARD

آئي سي سي نړیوالې
شلوریزې اتلولي
سریلانکا 2012

# ویاړ سرلیکونه

# WYAARH PAGE TITLES




د مذهب په رڼا کښې د ژوند
د بېلا بېلو اړخونو څېړنه
اؤ منطقي دليلونه




د پښتنو د اقتصادي تګلارې
اؤ پرمختګ د پاره سائنسي
تاده ابښودلو په لور هڅه




د پښتنو د پاره د نصابي اؤ
هنري تعليم په اړه لارښودنه
اؤ بشپړ وړانديزونه




ادب د ژوند د پاره
ادبي څېړنې اؤ د پښتو ادب
فني اؤ فکري څېړنه اؤ اغېزه




د قبائيلي سيمو تاريخي اؤ
جغرافيائي اهميت اؤ د ژوند
هر اړخيزه کتنه اؤ څېړنه




د ټولنيزو رسنيو د پراخه
کېنوس نه د پښتنو ټولنيز
ژوند د پاره ګټورې لارې




د پښتنو د سيمئيزو لوبو
فطري اؤ منطقي اړخونه
اؤ د نورو لوبو راپورونه




په پښتنه ټولنه کښې د
مېرمنو برخه اؤ د هغوي د
ژوند ژواک اړخونه اؤ تعليم




د پښتو سندرې، درامې، فلم
تهېټر اؤ ستيج جاج، څېړنه
اؤ تنقيدي کتنه

THE MONTHLY WYAARH ASHNAGHAR

میاشتنۍ ویاړ اشنغر

چیف ایډیټر
حیات روغانی

ISSN201210

ایډیټر: معظم جان معظم

اعزازي ایډیټر: ډاکټر زبیر حسرت

بیورو چیف: اصف علي

سرکولېشن منېجر: نوید راهي

Wyaarh.ashnaghar@gmail.com
Monthly.wyaarh@groups.facebook.com
0300 933 9128
0343 965 5035

پاکستان کښې:
بیعه: 30 روپې (کلیزه چنده 300 روپې)

| بدل اشتراک | د یوې ګڼې بیه | د کال لپاره |
|---|---|---|
| افغانستان | 25 افغانۍ | 250 |
| یورپ | 5 امریکائي ډالره | 50 |
| خلیج | 10 یو اې اي درهم | 200 |

مخپانه: حمنا ګرافکس
لیکچاري: داؤد ساګر
انځورګر: فوتوسټي چارسده
چاپ چاري: حمنا پبلیکېشنز پښتونخوا
0300 933 9128

| | | |
|---|---|---|
| سپېڅلی قران (ژباړه) | 01 | مفتي حنیف الله |
| اداریه | 02 | اداره |
| اسلام اباد راپور | 04 | اداره |
| کابل راپور | 07 | اداره |
| پښتانه او تعلیم | 08 | شېربهادر افتاب |
| دین اسلام د ژوند ضابطه | 10 | اداره |
| د "ربا" (سود) د حرام کېدلو اقتصادي منطق | 11 | بشیرالله نجیمي |
| حسد او کینه | 12 | مولوي عصمت الله عزام |
| شِغَار (د بدل نکاح) څه ته وائي؟ | 13 | مولانا عبید الله شاه |
| قبائیلي سیمې | 15 | اداره |
| لوښې | 17 | فېروز افریدے |
| قبائیلي سیمې، د منځنۍ اسیا بازار ته پراخه لار | 19 | اداره |
| بحر الادب، اعراب، اصلاحات او حرفونه | 20 | اروا ښاد شېرشاه ترخوي |
| سېمبول | 23 | کتابتون ټولنه |
| یه قربان (ټپې) او متلونه | 24 | اداره |
| د ادبي نوغو پېژندګلو | 25 | کتابتون ټولنه |
| قېس سوختي، حمیده پکتیانۍ، قېصر خان ماښروال، طیب خان | 33 | |
| پښتنې مېرمنې | 34 | سائره اتمانخېله |
| د ښځو په حال | 35 | زرین زاده ایسپزے |
| ټولنیزې رسنۍ، اوس نړۍ کلے شو | 37 | میا سجاد علي کاکاخېل |
| "پښتو ډاټ نېټ" او "کتابتون ټولنه" | 38 | اداره |
| اوبه، د قدرت لویه ورکړه | 39 | ارشاد الله وردګوال |
| پښتانه او د نوي وخت تقاضې | 40 | شاه مرغز |
| خوشحال بابا او رحمان بابا بختور دي | 42 | حېدرګل اباخېل |
| د پښتونخوا سټاک اېکسچېنج پېژندګلو | 43 | اداره |
| سېلاني وېرې او سېلابونه پښتني جنت نه وارول | 45 | شاهین افریدے |
| سیکولرازم څه دي؟ | 46 | حبیب یونس سالارزے |
| خیبرپښتونخوا بجټ 2012-13 | 47 | بهرام اوډیګرام |
| د پښتنو لوبې، ټېټپارے | 48 | اداره |
| ICC شلورېزې اتلولۍ او سپراېټ پوړۍ | 50 | نهاد خان |
| د پښتو سُرونو څېړنه | 51 | خیام یوسفزے |
| پښتو سي ډي ډرامې، د پښتو ژواک رنګین قتل | 52 | رئیس کاکړ |
| د سندرو د هجرت موسم | 53 | روزي خان ناز |
| د پېښور یهودیان او د مشر بلور ړېره | 54 | چغمت |
| د عمران خان د وزیرستان مېینه دوره | 55 | سلیم صافي |

Editorial
WYAARH
ویاړ اداریه



د قران شریف لفظي جوړښت اؤ د عربۍ ژبې د لوستلو خْوند د دې سپېڅلي کتاب په ژباړه [ترجمه] پوهېدونکي هم خپل لاس کښې اخلي اؤ دغسې د بدمرغۍ نه پښتانۀ د سپېڅلي کتاب سره د ډېرې مينې پرته هم د دې د رڼا نه خپل ژوند د پاره يؤ څاڅکے اخستلے نۀ شي. مونږ دلته دا ژباړه په دې هيله وړاندې کوو، چې پښتانۀ د خپل ژوند اؤ ژواک تيارې په دې رڼا روښانه کړي.

القرآن الكريم

پښتو ژباړه

سورة الفاتحة [پرانسته] مکي دے، اووۀ ايتونه اؤ يوه رکوع لري

په نامه د الله چې ډېر بخښونکے اؤ پېرزو کوونکے دے

ټولې ستائنې هاغه څښتن لره چې د ټول پېدايښت پالونکے دے. [هغه څښتن چې] ډېر بخښونکے اؤ پېرزو کوونکے دے. هغه د پای د ورځې څښتن دے. [مونږ يوازې اؤ يوازې] ستا عبادت کوو اؤ [مونږ يوازې اؤ يوازې] ستا مْرسته غواړو. مونږ ته نېغه لاره سمه کړه. د هغه وګړو لاره، چې تا پرې خپلې پېرزؤنې کړې دي. نۀ د هغه وګړو لاره، چې ستا ناخوښي ئې په برخه شوې ده اؤ نۀ د هغو، چې په کږو لارو ښکېل دي.

سورة البقره [غْوا] مدني دے، دوه سوه شپږ اتيا ايتونه اؤ څلوېښت رکوع لري

په نامه د الله چې ډېر بخښونکے اؤ پېرزو کوونکے دے

الم. دې کتاب کښې [چې د خداے له لوري دے] د ګوتې نيولو ځاے نشته. دا د خداے خوښي کوونکو د پاره د نېغې لارې ښودونکے دے. [د خداے خوښي کوونکي] هاغه څوک چې په [سترګو نه اخوا] ريښتياؤ باور لري اؤ [خپل وخت اؤ ټولو غوښتنو سره] نمونځ کوي اؤ زمونږ د پېرزوئنو څخه [د بې وسه اؤ بې څوکه اولس] برخه کوي اؤ [د خداے خوښي کوونکي] هاغه څوک کچې زمونږ لخوا تا ته په لېږلو شوؤ [نخښو ‹قران›] باور لري اؤ په هاغه [نخښو] هم [باور لري]، کومې چې ستا نه وړاندې لېږلې شوې وې اؤ د پرېکړې په ورځ هم باور لري. هم دا [د خداے خوښي کوونکي] د خپل څښتن لخوا په سمه لاره دي اؤ هم دوي بريالېتوب ترلاسه کوونکي دي. څوک چې [د سمې لارې نه مخ اړوونکي دي] هغو ته د نېغې لارې ښونه يا نه ښونه يوه ده [ځکه چې] هغوي سمې لارې ته غاړه ايښودونکي نۀ دي. د [سمې لارې نه د مخ اړوونکو] په زړونو د [سر غړؤنې] ټاپه ده [ځکه پرې د سمې لارې د ښونې اغېزه نۀ وي] اؤ د دوي په غوږونو هم [ځکه د سمې لارې ښونه نۀ اؤري] اؤ سترګې ئې [د سمې لارې رڼا ته] ړندې دي اؤ دوي د پاره ډېر زبېخ اؤ کړان په برخه دے. اؤ د وګړو څخه ځينې هغه دي، چې وائي، مونږ د خداے اؤ د پرېکړې ورځ منونکي يو، خو دوي منونکي نۀ دي. دوي د خداے اؤ د منونکو سره ټګي کوي [خو] دوي نۀ پوهېږي، چې [په دې ټګۍ] دوي خپل ځانونه تېرباسي.

## دا ځل د پېښور پرهر ونه ډېر نیازبین دي

د پېښور خاؤره چې د نړۍ د پاره عمومي اؤ د ایشیا د پاره په خصوصي توګه د دې د مخ نه د نړیوال موسم تعین کېږي، له بده مرغه نن هم هاغسې ژوبل ژوبل، څرېکې څرېکې، اور اؤ ګور ده، څنګه چې درې پېړۍ اګاهو ملنګ عبدالرحمان ستائیلې وه. د نړۍ څومره د قلم قبیلې یؤمخیز اؤ سپین روبي چې ؤوینې، هغه کۀ د هر مذهب دي اؤ وو، هغوي د خاتم النبین حضرت محمد ﷺ د سپېڅلتیا اؤ په نړۍ د هغۀ د ښونې اؤ ښودنې لړ کښې د خپل قلم مخ تور کړے نۀ دے. د تېري جونز دغه ګستاخ ګام په ټوله نړۍ کښې ؤغندلے شو. پېښور کښې اولس را پاڅېدلو اؤ د اولس پنګې ئې ؤسېزلې، ساګانې ئې په مرګ ؤسپارلې اؤ د پېښور په نیازبین مخ ئې نوکونه راکښل. پېښور د دې پرهرونو ماتم هم کولے نۀ شي، ځکه چې د هاغه نیازبین پېغمبر په نوم دلته بخري غرغنډه شول، د کوم نیازبین پېغمبر د پښو خاؤرو نه چې پېښور اؤ د پېښور هره ساه اؤ هر ذره ځار شه ۔

دا هم یؤ سپین رېښتیا دي، چې داسې پرتشدده مظاهرې ټولې شوې نۀ دي. رسنۍ (میډیا) مطبوعاتي وي اؤ کۀ برېښنائي، هر هغه څۀ له ځاے ورکوي، چې سنسني پکښې وي اؤ خرڅېږي. ځکه خو هغه بې شمېره پرامن احتجاجونو له ئې ځاے ور نۀ کړلو، کوم چې د هېواد په بېلابېلو برخو کښې شوي دي.

دې هر څۀ نه سربېره، دا وئیلے شو، چې د دومره لوي مذهبي ځواب په ترڅ کښې لوټ مار، فساد اؤ ورانے کول د یؤ ذمه وار اؤ رېښتوني مسلمان کار نۀ دے. هر چا چې دغه کرکژن کارونه کړي دي، باید هغه دې بې له څۀ مخ ملازې اؤ رعایت محاکمه کړے شي، چې د پېښور د پرهرونو قصاص ؤشي.

## NFC اېوارډ ......

## د سوال یاري ده اوس به دړې وړې شینه

د صوبې برخه لاس ته راؤړل اؤ د اولس د ښېګړې ټول زیري یؤ ځل بیا د خاموشۍ د دېوال په شا دي. د اسلام اباد لوي ایوان ساه راکښلې ده اؤ داسې ګنګوسې راځي، لکه چې ښکلي د وفا په لوظ بیا ستومانه دي. کومې محکمې چې د اتلسم ترمیم په ترڅ کښې صوبو ته سپارل د وفاق په سر دي، هغه سپارلو کښې د ځنډ نه کار اخستلے کېږي اؤ د ښاغلي میا افتخار لخوا د اے اېن پي غونډه کښې دغه لړ کښې خبره کول خاموشه سمندر ته ببباکه کاڼے ویشتل دي . په سېنېټ کښې د پښتنو ښۀ راغلاست باید د دې محرومې صوبې د برخې د خُوندي کولو ضمانت وي. مونږ د خیبرپښتونخوا د واکمنو نه دا هیله لرلے شو، چې د NFC لړ کښې اتلسم ترمیم سره لاس ته راوړلې ګټې د صوبې اولس ته ؤښائي اؤ دغه تالان کښې کۀ هر پښتون لاربښود اؤ بادار د غلي پاتې کېدلو تېر کوي، نو هغه دې څرګند کړي.

ISSN201210

# سردار اختر مېنګل د سپريم کورټ په درشل

د بلوچستان د پخواني وزيراعلى سردار عطاء الله مېنګل ځوی چې پخپله هم د بلوچستان وزيراعلى پاتې شوی دی، تېره ورځ د خپل بيان رېکارډ کولو د پاره سپريم کورټ ته مخامخ شو. د بلوچستان دننه د سردار اخترمېنګل اثر رسوخ او د بلوچستان د شخړې په اړه د هغهٔ د خبرو نه د باتې. د بوې درک کېږي. هغهٔ سپريم کورټ ته خپل بيان کښې ووئېل، چې د بلوچستان په خاوره روان پوځي عمليات دې په ځاے ودرولے شي او دا چې ورک شوي وګړي دې عدالت کښې مخ کړے شي او خفيه ايجنسئ دې د انساني حقوقو د خلاف ورزئ نه ونيولې شي. هغهٔ خپل بيان کښې ووې، چې د بلوچستان شخړه د کشمير د شخړې نه زياته سنجيده ده او د بلوچستان د اولس او د وفاق تر منځ دې د اعتماد په ځاے کولو هڅه وشي. هغهٔ زياته کړه، چې د پاکستان هر واکمن د بلوچو سره بوسو کښې اوبهٔ بوتلې دي او بايد اوس دغه ټوقې پرېښودې شي او د سمون لاره خپله کړې شي. د سردار مېنګل په خبرو کښې د ډېر سوخت سره د هيلې پلوشې هم وي. دلته سوال دا پېدا کېږي، چې د بلوچستان نيم په نيمه پښتانهٔ هم د بلوچستان او اسټېبلشمنټ تر منځه چقېږي. بايد سپريم کورټ د سردار اخترمېنګل د خبرو په تائيد کښې د دې شخړې د پاره منطقي او عملي لارې يقيني کړي.

# عبدالولي خان يونيورسټي

## قبائيلي سيمې سترګې په لار دي

د پښتونخوا په لرغوني تاريخ کښې کهٔ مونږ عبدالولي خان يونيورسټي د باچاخان د ازادو مدرسو يو پراخه او وياړمن تسلسل ومنو، نو دا تپوس را ته ودرېږي، چې د قبائيلي سيمو پښتانهٔ کهٔ هر څو د وفاق سره تړلي دي، خو بايد پښتونخوا په ښېګړه کښې د خپلې وينې او مينې دغه برخه (FATA) هېره نهٔ کړي. دا وخت کښې قبائيلي سيمو کښې څومره هم ستونزې دي، نو د هغې دوه لاملونه زمونږ د سترګو وړاندې دي. **1.** يؤمخيزه ريښتونې پښتنه مينه **2.** د لوست کمه شرح

ډېر څهٔ به د لاس نه ورکړے شوي وي، خو دغه هر څهٔ د ګټې سره لاس ته راوړل به هم وخت غواړي. بايد هم نن دغه ګام پورته کړے شي او د عبدالولي خان يونيورسټئ يوه پراخه او هراړخيزه څانګه دغلته پرانستلې شي، تر څو زمونږ راتلونکے هم زمونږ د نن غوندې د ازمېښتونو ناتار او شاتار نه وژغورلے شو.

# پيوټن پخپل درشل پښه نيولے شو

د روسيا د اولسمشر ولاديميرپيوټن د اسلام اباد دوره وځنډولې شوه او دغسې د پاکستان، افغانستان، تاجکستان او روسيا تر منځه اسلام اباد کښې کېدونکې د سيمې د پرمختګ د پاره غونډه ځنډولې شوې ده. په نړيوالو حالاتو د روسيا اثرات نه انکار کېدلے نهٔ شي. پاکستان د روسيا د اولسمشر په کوربه کېدلو کهٔ چا ته هر څنګه ګوته وځنډېږي، خو د خپلو بهرنيو چارو د وزارت او ادارو لخوا بايد د دغه څلورهېوادېز کانفرانس کول يقيني کړي، ځکه چې د سيمې د پرمختګ د پاره دغه کانفرانس چې څومره ضروري دے، دومره ئې د نړئ خبرخواهان د ځنډ نه د نيشت کولو د پاره چمتو دي–




**راپور: افسر علي**

د ملل متحد په اووۀ شپېتمه دستوره کښې د پاکستان د اولسمشر اصف علي زرداري خبرې اؤ د هغۀ د خبرو دننه رانغښتې معنې د نړيوالې وروروليٍ د پاره د فکر وړ وې اؤ د خپلو خبرو پېل کښې د نړۍ د ټولو قامونو نه د مسلمانانو د نازولي پېغمبرﷺ پحقله فلم باندې غند نه کول اؤ د پېغمبرانو اؤ مذهبونو سپکاوے د جرم په حېث د منلو غږ کول د ټولې مسلمانې نړۍ غږ ؤ ـ ښاغلي اولسمشر خپلو خبرو کښې په نړيواله وروروليٍ غږ ؤکړو، چې د پاکستان اولس به نور څومره د ترهګرۍ په ضد د نخښتې قيمت ورکوي اؤ دغه لړ کښې ئې د افغانستان د حالاتو اؤ د پاکستان اؤ چين د اړيکو سپيناوے هم ؤکړو ـ د اولسمشر خبرې د پاکستان د راتلونکې نړيوالې تګلارې پله کۀ ګوته نيسي، خو دلته اولس له به دا باور څوک ورکوي، ځکه چې د هر نوي حکومت اؤ د هر تېر حکومت د راوړے شوؤ تګلارو په منځ کښې د ګرنت اؤ ګيتا هومره لاندے باندے وي ـ په دغه دستوره کښې ښاغلي اولسمشر په نړۍ کښې د اولس تر منځه د تاؤتريخوالي د منځ نه ويستلو اؤ د بې وزله اولسونو د پرمختګ د پاره وړانديزونه خپلو خبرو کښې رانغښتي وو.

خبرو کښې خو ډېر څۀ دا ځل د اسلام اباد د صوبائي چوپالونو شپلونو هم رانغښتي وو ـ د سياسي موسمي مرغيو پراخه اؤ بې بنده الوتونه د اسلام اباد په شين انګڼ کښې پښه نيولے شوے نۀ دے ـ کۀ يؤ خوا د دفاع پاکستان زوږ ته په خُلۀ يؤ ناليدلے لاس ايښودے شوے دے، نو بلخوا د "يوازيني بدلون راؤړونکي ګوند" لاپه کوونکي هم تېرو څو مياشتو کښې د ډېرو جنجونو راؤړلو نه وروستو ناڅاپه د پوندو په سر شوے دے اؤ دغسې د اسلام اباد په لوي بازار کښې د سرونو د وېش اؤ سودا سيلۍ تونده اؤ تانده ده.



سپريم کورټ ته په څېلمه کېدلو د بلوچستان پخواني وزيراعلی سردار اختر مېنګل هم ډېر څۀ ؤوې ـ دغه د سوخت ډکه دړکه وه اؤ کۀ د حالاتو رېښتونې کيسه، چې هغۀ خپل منځ ته راؤړونکي شپږ نکات د شيخ مجيب د شپږو نکاتو همسر ؤبلل ـ د قام پرستو نزدې د شيخ مجيب ټول نکات مباح دي اؤ هغوي د قام پرستۍ په بشپړه معنا کښې دغه تشريح هم کوي، خو د وفاقيت منونکي کۀ سينه هر څومره لويه کړي، خو د بېلې کرنسۍ اؤ د ځان له امنيتي صوبائي لښکر منلو ته به په مرګ هم غاړه نۀ ږدي ـ مونږ هر حال کښې دا وايو، چې د وفاق په ځاے اؤ يؤ موټے ساتلو اؤ د يؤ بل شپاړسم دسمبر مخنيوي د پاره بايد صوبو ته د هغوي ټول حقونه ورکړے شي اؤ په يؤ کور دننه دې د "کوکو" اؤ "کۍ" رويه د منځ نه يؤړلې شي ـ د


ISSN201210

سردار مېنګل خبرو کښې خوړه هیله هم ښکاره ده
اؤ کرکژنه اندېښنه هم. هر څوک به دغه لهجې ته
پخپلو خپلو صوبائي اؤ وفاقي چشمو کښې
ګوري.



د پاکستان اؤ د هند د تجارت د وزارتونو لخوا
تابیا کړې شوې غونډه هم ؤشوله اؤ رسنیو ته
ؤوئیلے شول، چې پایله کښې به ښې نتیجې منځ
ته راشي، خو دې ځائے کښې د پښتونخوا اؤ د
بلوچستان صوبې دا تپوسونه کولو کښې پرځ نهٔ
دي، چې د پنجاب د پاره د لوي هندوستان پراخه
پوله د تجارت اؤ صنعت د پاره پرانستې کیږي اؤ
هغه هم د هندوستان په شرطونو، خو ولې د دوي
د پاره د افغانستان اؤ ایران سرحدونه ګنډلي
شوي دي. مونږ د قام پرست په حېث د هندوستان
سره د سولې اؤ د تجارت ته وده ورکولو خلاف نهٔ
یو، خو دا غوښتنه کوو، چې د پښتونخوا اؤ
بلوچستان سرحدونه دې هم پرانستلے شي، تر څو
د دې ځائے اولس هم د خپل ژوند ښهٔ کولو د پاره
ځان ته نوې لارې ؤسپړدلے شي.

د پاکستان چیف الېکشن کمشنر د ټولو سیاسي
ګوندونو په رابللي شوي کانفرانس کښې خپله
غاړه خوشې کړله. هغهٔ په جار ؤوئېل، چې مونږ د
ازادې ټولټاکنې د پاره خپل ټول وسائل په کار
راولو اؤ دې لړ کښې د سیاسي ګوندونو فرض
جوړېږي، چې د الېکشن کمېشن سره کومک
ؤکړي. دغه لړ کښې په کراچۍ کښې مېشته
پښتانهٔ دا یوه تپه کوي چې:

وطن زما نه پاتې کیږي
لکه مرغۍ په ډکو شپې ورته کوّمه

د کراچۍ په لوي ښار کښې چې پښتنو ټول ژوند
ورته د رڼاګانو ښار وئیلې دے، هلته په لارو
کوڅو کښې ټولو نه زیات وژلے کېدونکي هم
پښتانهٔ دي اؤ د هغوي د پاره د پېژند (شناختي
کارډ) تر لاسه کول هم د ټولو نه ګران دي. دغه
ځائے کښې به د الېکشن کمېشن لخوا جوړ کړې
فهرستونه څنګه د شک نه خپله لمن ژغوري اؤ
بیا د سمیمیز وګریشمبر په ترڅ کښې چې کومې
نیمګړتیاوې اؤ کوم تحفظات دي، هغه به څنګه
رانغاړي؟



پېښور د اسلام اباد په درشل غږ کړو:

خدا ے دې په واؤرو کښې ایسار کړه
چې د تؤدې غېږې مې درشي ارمانونه

اؤ اسلام اباد بیا د پاکستان اؤ د نړۍ په مخ
راغلي ګنې پېښې اؤ هلې ځلې د ځنډ د جواز په
توګه وړاندې کړلې. د اتلسم ترمیم په ترڅ کښې د
وفاق نه صوبو ته حواله کېدونکي محکمې لا تر
دې دمه د وفاق په لاسو کښې دي اؤ په **NFC**
ابوارډ کښې شوي دغه لوظ باندې ځان شپېلے

کړے دے۔ د پېښور غږ هم د ګنګوسي هم جیګ دے، ځکه چې چاپېره ناست غوږونه څک دي او پېښور به د یوُمخیزې پښتنې مینې پېغور وُ نهٔ زغملے شي۔



د پښتنو په خاوره سیاست کوونکي ګوندونه باید دا وخت د اولسي قامي ګوند سره اوږه په اوږه د صوبې د برخې او محکمو پېښور ته راوړلو د پاره وُدرېږي او د څهٔ ډول سیاسي مخ رونو کولو او ګوندیزو ګټو لاس ته راوړلو په ځاے د صوبې او د اولس مفادات ته ترجیح ورکړي۔ اولسي قامي ګوند په ډېر لږشمېر هم د صوبې د پاره د وفاق نه ډېر څهٔ وُګټل، خو دا ګټه به هله ګټه وي، چې د صوبې د اولس په ښه راشي۔ داسې وخت کښې د اولسي قامي ګوند سره تړبګني کوونکي کهٔ د خپلو سیاسي وُنو د جیګولو په تُرځ کښې د صوبې پخې ګټې نه اوم تاوان جوړ کړي، نو دا به د دې خاورې د تاریخ، د خاورې او اولس سره لوي قامي خیانت وي او په وخت راتللو به قام دغه خیانت کوونکي معاف نهٔ کړي۔ د وفاقي جمهوري سیاست د ټولو نه وړومبې لاره هم دا وي، چې سیاسي ګوندونه کهٔ خپل کور کښې هر څهٔ کوي، خو د کور برخه لاس ته راوړلو د پاره خپل ټول صلاحیتونه او ټوله توانائي پکاروي۔

د پټرولو مصنوعاتو نرخونه ټیټ کړے شوي دي او په دغه لړ کښې د اوونۍ په کچ د نرخونو د تعین پرېکړه شوې ده۔ په داسې حالاتو کښې چې د پاکستان دننه سیاسي، اقتصادي او نړیوالې ټولې پوکنې ډېرې پرڅېدلې دي او د اولس زړونه د ژوند نه مارهٔ شوي دي، دغه زېرے یقیناً چې یا خو د بدلون زېرے دے او یا د واکمنۍ د وخت سر ته رسېدلو باندې د سیاسي جلسې او ووټ غوښتلو د پاره خپل مخ په لاړو کول دي۔ هر څهٔ چې وي، خو اولس د پاره "مژدهٔ دلآویز است"۔



د پنجاب وزیراعلی شهبازشریف د ترکي په دوره دے او هلته د پنجاب د پاره د ترکي حکومت نه ګټې د لاس ته راوړلو کښې تر اوسه مخې ته راغلو اعلانونو کښې ډېر بریالے ښکاري۔

د پښتونخوا د ځلمي وزیراعلی لخوا په صوبائي پلازمینه کښې د توانایۍ کانفرانس د راتلونکي د پاره یوُ لوي ګام دے۔ هر څو کهٔ دغه کانفرانس د سیاسي ناخوالو ښکار هم شو، خو د بجلۍ د پېداوار او تقسیم حق صوبې ته راوړل د دې صوبې د صنعتي ترقۍ د پاره وړومبے اهم ګام دے۔ د دې کانفرانس د پېل کېدلو نه اګاهو مسلم لیګ (ن)، تحریک انصاف او جماعت اسلامي بائېکاټ وُکړلو او اوس د صوبې د ځنې سیاسي خلقو او نورو ماهرینو په سفارشاتو یوُ بل مرتب کړے شوے دے، چې په صوبائي اسمبلۍ کښې به وړاندې کېږي، تر څو وفاق ته سفارش وُکړے شي او د صوبې حق صوبې ته راوړلے شي۔ هیله لرو، چې د پښتنو سیاست کوونکي به د وزیراعلی دغه ګام کښې مرسته وُکړي۔

**راپور: عبدالله پکتیاوال**

د افغانستان د کرکیلې د وزارت تر مخه سږکال هېواد د غلې د اړتیا په پلوه په خپل کور موړ شوے دے او اوس به د بهر نه د غلې د راوړلو ډېره لږه اړتیا وي. و وزارت د ویاند تر مخه د ډېرو بارانونو په کېدلو او د کرنې د پوهانو په ښونه د بزغلو او خرې د بدلون سره ښې اغېزې مخې ته راغلې دي او د اولس د شمېر تر مخه چې هر کال افغانستان کښې د اووۀ ملیونه ټنه غلې کومه اړتیا وي، هغې کښې به څلور لکهه ټنه غله د بهر نه راؤړلې کېږي او نوره به د خپلو کښتونو نه تر لاسه کولې شي. د غلې نه پرته د شینکو او مېوؤ په لړ کښې هم د افغانستان د کرکیلې د وزارت لخوا د اصلاح شوي بزغلو/تخم په سیمو کښې معارفي کولو او د زیات نه زیاته زمکه د کرکیلې د پاره د چمتو کولو نه وروستو یؤ ستر بدلون د هېواد په زرعي بڼه کښې راغلے دے او کۀ دا لړۍ هم دغسې دوام ؤمومي، نو لرې نۀ ده، چې افغانستان نور هم پخپلو پښو ؤدرېږي او د ګاونډیانو اړتیاؤ کښې هم کومک ؤکړي.



د ایران لخوا په سلګونه افغان کډوال افغانستان ته د لېږلو د راپور راتللو نه وروستو د افغانستان د کډوالو د وزارت چارواکو غږ کړے دے، چې ډېر زر کېدونکې جنېوا کانفرانس کښې به د پاکستان او ایران د واکمنو سره د افغان کډوال په اړه خبرې ؤکړي. په ایران کښې خواؤشا یؤ نیم ملیونه افغانان بې د څۀ سفري کاغذونو ژوند کوي او د افغانستان حکومت د ګاونډي هېواد نه غوښتنه کړې ده، چې د افغان کډوال په لړ کښې ورکړې شوې نېټه دې دومره نوره ؤغځوي، تر څو د کډوالو د چارو وزارت خپلو وګړو د پاره پاسپورټونه چمتو کړے شي. هیله کولے شو، چې د ایران حکومت به افغان چارواکو ته وخت ورکړي



د ایساف او افغان ځواکونو تر منځ نخښتې څۀ موده نه ډېرې شوي دي او دغسې د امنیتي لښکرو خپل منځ کښې تاؤ تریخوالے د هېواد مجموعي امن د پاره ناوړه ده. د فرینډلي فائرنګ دغه لړۍ له مخنیوي د پاره د ایساف او افغان چارواکو تر منځ خبرې روانې دي. د یؤ سنګر او مورچل دننه د ګنو ځواکونو شتون سره داسې پېښې منځ ته راتلل، کۀ هر څو کېږي، خو د دومره موده یؤ ځاے فعالیتونه پرې ګوته پورته کوي.




## پښتانۀ اؤ تعلیم

**شېر بهادر افتاب**

د تعلیم په اړه به دومره ؤوایم، چې په کوم قام کښې د دې شرح زیاته وي، د هاغه قام اولس زیات خپلواکه اؤ سوکاله وي اؤ د وختونو په ګیلو باندې خپلې مرۍ نۀ ؤچوي.

له بده مرغه، په پښتنو کښې د تعلیم ترلاسه کولو شعور دومره نۀ ؤ، چې دې وخت کښې ئې مونږ ته مېوه په لاس راغلې وه، خو بیا هم دا وئیلے شو، چې اوس دغه شعور تر ډېره حده عام شوے دے اؤ پښتانۀ د خپلو ځامنو اؤ لوڼو تعلیم ته پاملرنه کوي.

پښتونخوا د مېړو کور دے، له غمه خالي ورځ نۀ ځي. تر څو چې زمونږ دا اوښکې ؤچېدلې، چې پښتانۀ خپل وارۀ ښوونځو ته ؤلېږي، د پاسه پرې د ښوونځو د ړنګولو لړۍ پېل شوه اؤ په لږه موده کښې ګڼ شمېر ښوونځي په بمي چاؤدنو ړنګ شول اؤ دغسې د وېرې اؤ ترخې پېریان د ښوونځو دننه مېشته شول. اوس کۀ هر څومره په دغه سویلي سیمو سوات اؤ دیر کښې امن راغلے دے اؤ د پېښور نه د دغه ښوونځو د بیا په ځاے کولو اؤ د تعلیم لړۍ د بیا پېل کولو هلې ځلې کېږي، خو په قبائیلي سیمو کښې دغه پېریان په یؤ نه یؤ شکل کښې پا ځۀ ناست دي اؤ یوه ایجازه پرې کار نۀ کوي. له بده مرغه د قبائیلي سیمو د حالاتو په ټول پاکستان اثرات کېږي، خو خیبرپښتونخوا ئې براه راست د اثر لاندې ده.

اوس د لوړو زده کړو (هائېرایجوکېشن) په لړ کښې د عبدالولي خان یونیورسټي د پښتنو د پاره یؤ لوي اؤ ګټور ګام دے اؤ هیله لرو، چې دغه لړۍ به نوره هم څوره شي، چې قبائیلي سیمې به هم د کوئټې د ځانګې غوندې خپله برخه ؤمومي.

اوس زمونږ ټوله توجه په پرائمري اؤ مډل سکولونو پکار ده. باید مونږ په دغه کچ د وړو په ښوونځو ته راتللو زیاته توجه ورکړو.



زمونږ وړاندې يو بل ستونزے هم لکه د خنډ په لاره کښې ولاړ دے او هغه دا چې پښتانهٔ خپلو بچو باندې اعلا تعليمونه نهٔ کوي او زيات نه زيات لسم (سېکنډري سکول) پورې زده کړه کولو باندې خپله غاړه خلاصه ګڼي. په داسې حال کښې زهٔ دا وړانديز مخې ته ږدم، چې کوم مور او پلار په دې پوهه شي، چې يا خو زهٔ په خپل خوئ/لور زيات تعليم کولے نهٔ شم، يا د هغوي زيات تعليم ته زړهٔ نشته، نو بايد وخت ورله هسې خراب نهٔ کړے، بلکې د تکنيکي/هنري زده کړې تابيا ئې وکړي. دې لړ کښې د ګاډو مکېنکي/د فرېجونو او پکو وغېره د سمولو هنر هم په ګوته کولے شو او داسې نور کارونه هم شته، چې د وخت په لګښت سره د روزګار لاره ګرځېدلې شي.

د حکومت لخوا دغه لړ کښې د تکنيکي زده کړو د پاره ادارې او ښوونځي هم شته او په شخصي ځايونو کښې هم په وخت ورکولو دغه هنرونه زده کېدلے شي. بله خبره دا هم ده، چې اوس ميکانيکي کارونو د پاره په ټوله نړۍ کښې ځاے وي او کهٔ يو وګړے د هېواد نه بهر هم لاړ شي او څهٔ هنر ئې په لاس کښې وي، نو هغه هلته ښهٔ په عزت او درناوي سره حلاله روزي ګټلې شي.

مونږ اوس د يو قام په حېث بايد ځان له د تګلارې تعين وکړو. تر څو پورې به مونږ د ډېرنو پېښتو لاندې لکه د څاروو ټېټ ګرځو. پښتنو له الله د زده کړې د پاره زړهٔ او ذهن دواړه پراخه ورکړې دي او چې کوم تکنيکي او ميکانيکي کار ته ئې مخه شي، هغې کښې د نوم پېدا کولو توان او پوهه لري. اوس وخت راغلے دے، چې مونږ د نورو قامونو د سيال کېدلو د پاره يو بل له لاس ورکړو او خپله ټولنه کښې د علم او پوهې رڼا راوستلو د پاره تونده او تاند شو.



دا صدي د تعليم او هنر ده. نن کهٔ مونږ د خپل راتلونکي فکر و نهٔ کړو او علمي ګامونه مو پورته نهٔ کړل، نو خپل راتلونکي کهول ته به ملامته يو. اوس مونږ له وخت په لاس راغلے دے او د دې وخت نه ګټه اخستل زمونږ کار دے. د خپل کور واړهٔ، د خپلو ګاونډيانو واړهٔ، د خپل کلي واړهٔ او دغسې د خپل واړهٔ د تعليم او هنر پله راغب کول زمونږ قامي ذمه واري ده او الله دې مونږ له د قامي ذمه وارۍ سر ته رسولو توان او توفيق راکړي (امين).

**وياړ ټولو پښتنو ته خواست کوي، چې هغوي د نصابي او هنري تعليم په لړ کښې خپلې کټورې ليکنې مونږ سره شريکې کړي، چې دغسې د قام د پاره د پرمختګ او سوکالۍ لارې ومومندلے شو.**




# دین اسلام: د ژوند ضابطه

**اداریه**

اسلام (عربۍ کښې الاسلام) یؤ (مونوتیېستېک) د یؤ څښتن/خدا ے منونکې ډلې (عقیدې) دین دے، چې د زېږون، خپل، رنګ اؤ نورو نړئیزو کرښو اؤ ځانګړتیاؤ نه پرته د نړۍ د لوي شمېر وګړي ئې لري. د دین (اسلام) هدف د مینې، سولې، امن، روغې اؤ وګړي ژوند ته اسانتیاوې راؤړل دي.

د اسلام منونکو ته مسلمانان وایي. مسلمانان په دې ګروهه (عقیده) دي چې الله د انسانانو د لارښودنې لپاره وخت په وخت، خپل استازي (پیغمبران) نړۍ ته رالېږلي، چې هر یؤ خپله دنده د الهي اوامرو اؤ احکامو په رڼا کښې په بشپړه توګه سرته رسولې. د الهي استازو ټولو نو وروستے استازے د مکې ښار کښې محمدﷺ بن عبدالله دے، چې د مکې په سرلوړې قبیله قریش کښې زېږېدلے ؤ.

اسلام "غاړه ایښودلو" اؤ "ځان سپارلو" ته وائي. په اصطلاح کښې مونږ دا وئېلے شو، چې "مسلمان هغه وګړي ته وئېلے کېږي، کوم چې خپل ځان ټول په ټوله د لوي څښتن لخوا د رالېږلي شوي وروستي استازي (چې هغۀ نه وروستو به بل استازے نۀ وي) د ښودلے شوؤ ښونو اؤ ښودنو په رڼا کښې ژوند کوي.

د اسلام بنسټیزې عقیدې، ښونې اؤ ښودنې د لوي څښتن لخوا وروستي استازي محمدﷺ ته د قران نومې کتاب په توګه ورکړې شوې دي، چې دغه سپېڅلے کتاب د نړۍ په هره وئېلې کېدونکې ژبه کښې ژباړلے اؤ په نازلې شوې ژبې عربۍ کښې لوستلے اؤ خوندي شوے دے.

# حسد اؤ کینه

## مولوي عصمت الله عزام

ځني وګړي داسې وي، چې له يؤ چا څخه د يؤ نعمت يا ورکړې د ختمېدو ارزو کوي، چې کاشکې له فلاني څخه دا فلانے نعمت ختم شي، د يؤ چا ښېګړه اؤ فائدې ته په ښۀ نظر نۀ ګوري. په ځانګړي ډول چې کله خپلوان، دوستان اؤ همکسبه خلق په ښۀ حالت اؤ راحت کښې وېني، نو زړۀ ئې تاؤ کوي اؤ دا غواړي چې له دوي څخه د دوي دا ښۀ حالت واخيستلے شي اؤ ما ته راکړے شي، دې بدعادت اؤ بدې هيلې اؤ کرکژنې غوښتنې ته "حسد" اؤ د دې فاعل (کوونکي) ته "حاسد" وئيلے کيږي . حسد کوونکے ډير بد وي، ځکه دے د نورو ړنګون اؤ بربادي غواړي. د خپل ځان د ښيګړې لپاره هڅه نۀ کوي، ځکه دے شپه اؤ ورځ دنورو د بربادۍ په سوچ کښې ؤسي . نۀ دا چې د ځان لپاره څۀ ؤکړي . دۀ ته دا موقع نۀ وي چې د ځان د پرمختګ لپاره څۀ سوچ ؤکړي. له دې امله حاسد ډير سست اؤ کاهل وي، چې دا سستي دے د الله پاک له نعمتونو څخه محروموي. کله چې دے د خپلې بدعملۍ له امله له نعمتونو اؤ برياليتوبونو څخه محروم شي، نو د نورو په خوشحاليو ئې زړۀ سوزي اؤ د ځان په خير د هغوي لپاره هم د بربادۍ اميد اؤ ارزو کوي،کله د هغوي په ښکاره غيبت، چغلګرۍ، ناحق شکايتونه کوي اؤ کله ورباندې بې ځايه تهمتونه لګوي اؤ د هر ډول تاوان د وررسېدو په هيله ناست وي.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم په مبارکه زمانه کښې الله پاک په مسلمانانو ځانګړي انعامونه ؤکړل، چې يؤ له هغو څخه د ايمان اؤ قرآن ورکول وو . له دې امله يهوديانو اؤ نصاراؤ د مسلمانانو سره حسد اؤ کينه شروع کړه، لکه په قران کريم کښې چې الله پاک فرمائيلي دي:

ژباړه: ايا دوی له خلقو (ايمان راؤړونکو) سره حسد اؤ کينه کوي په هغه څۀ چې الله دوي ته ورکړي دي؟ (النساء)

په بل ځاے کښې فرمايي:

ژباړه: غواړي (دارمان په ډول سره) ډېر له کتاب لرونکو (يهود اؤ نصاری) څخه چې تاسو له ايمانه وروسته کفر ته واړوي، د حسد له امله چې د دوي په نفسونو کښې دے (البقرة)

نو دغه حسد اؤ کينه د يهوديانو اؤ نصرانيانو عادت دے . مسلمان بايد د دوي عادت په ځان کښې رانۀ ولي اؤ بايد د مسلمان لپاره خوشالي اؤ فايده خوښه کړي.

له حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت دے، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلي دي:

ژباړه: ځان ساتئ له کينې څخه ځکه کينه نيکۍ داسې خوري، لکه څنګه چې اور لرګي خوري (اؤ يا داسې وئيلے کيږي، (لکه څنګه چې اور واښۀ خوري)) - ابوداؤد

نو دا ډېره د خواچينۍ خبره ده چې سړے نيک عملونه هم ؤکړي، خو بيا هغه بېرته برباد کړي . د حسد اؤ کينې يؤ تاوان دا هم دے، چې کينه ګر سړے هر وخت کښې په عذاب اؤ تکليف باندې اخته وي، کۀ بل څوک خوشاله ؤويني، نو دے خفه وي، دا هم ددۀ لپاره د دۀ د دې عادت سزا ده چې په نړۍ کښې ورته رسيږي. الله پاک دې زمونږ زړونه د داسې مرضونو اؤ رنځونو څخه ؤژغوري اؤ د مسلمان ورور دپاره دې د هغه څۀ خوښولو زړۀ راکړي، کوم چې ځان له خوښوو.


ISSN201210

# د ربا (سُود) د حرام کېدلو اقتصادي منطق

بشير الله نجيمي

## د وسائلو توزيع

په سُود باندې ولاړ اقتصادي سېستم په مؤثر ډول په توليدي عوامل (Factor of Production) ويشلے نۀ شي، يعنې وسائل د مختلفو کمپنيو اؤ پروژو تر منځ د تلوليدي مؤثريت په بنا نۀ ويشي. په سودي سېستم کښې بانکونه کمپنيو اؤ پروژو ته د غوي د توليدي مؤثريت په بنا نۀ، بلکې د هغوي د "ضمانتي ارزښت" (Credit Worthiness) په بنياد پېسې ورکوي. هغوي ته مهم صرف دا دي، چې د دوي پېسې سره د سُوده ببرته ترلاسه شي. د هغوي کار د کمپنۍ په ځاے د خپل سُود سره وي.

خو اسلامي اقتصادي سېستم، کوم چې د ګټې اؤ تاوان د شريکولو په بنسټ ولاړ دے، د سُودي اقتصادي سيستم يوه ډېره غوره بديل را په ګوته کوي اؤ دا سيستم د کمپنيو اؤ پروژو تر منځه د وسايلو وېش د مؤثريت اؤ ګټورتيا پ بنا کوي، ځکه چې اسلامي بانک پخپله د کمپنۍ يا پروژې په ګټه اؤ تاوان کښې شريک وي، نو ځکه د هغه پروژې يا کمپنۍ بريالېتوب اؤ پېداواري صلاحيت ورته مهم وي اؤ دلته د هغه شخص يا کمپنۍ پنګئيز ارزښت (Credit worthiness) په نظر کښې نۀ نيولے کېږي.

سودي بانکونه وړې کمپنۍ له پامه غورځوي. دا سره له دې چې د دوي هغه پروژې چې پېسې ورته اخلي يا دوي ئې د تمويلولو غوښتنه کوي، ډېره احتمالي فائده لري، خو څۀ رنګه چې دوي د غټو کمپنيو په مقابل کښې په مالي ډول مستحکمې نۀ وي، نو بانکونه ورته پاملرنه نۀ کوي. خو په اسلامي بانکونو کښې داسې نۀ کېږي، ځکه بانک د پروژې موثريت اؤ ګټورتوب سره علاقه لري اؤ يوازې د کمپنۍ مالي ځواک مستحکمې ورته د ارزښت وړ نۀ وي. ځکه چې بانک د پروژې په ګټه اؤ تاوان کښې ملګرے وي.




## د عايد توزيع

سودي سيستم يۀ داسې حالت منځ ته راؤړي، چې په هغۀ کښې عايد په غېرعادلانه ډول توزيع کېږي. يعنې بې له دې چې کوم اقتصادي منطق په نظر کښې ؤنيولے شي، اميرانو اؤ غټو کمپنيو ته ډېره اؤ غريبانو اؤ وړو کمپنيو ته لږه برخه ورکولے کېږي. د بېلګې په توګه، بانکونه غټو کمپنيو ته په کم سود پېسې برابروي، مګر وړو کمپنيو ته خو اول خوک پور نۀ ورکوي اؤ کۀ بيا ئې ورکړي، نو په ډېره لوړه شرح ئې ورکوي اؤ د هغوي څخه ډېر څۀ د ضمانت په نوم ګاڼه کوي.

سودي سيستم په معاشره کښې يۀ ډېر غېرمفيد عادت پيداوړے کوي. هغه دا چې اولس د خپل ځان سره پېسې ساتي اؤ په کار ئې نۀ اچوي، بلکې بانک کښې ئې اچوي اؤ سُود پرې اخلي، چې دا د اقتصادي پرمختګ لپاره ګټور نۀ دي.


ISSN201210

## شغار (د بدل نکاح) څۀ ته وائي؟

مولانا عبېدالله شاه

شغار نکاح دې ته وائي، چې یؤکس د بل کس له خور یا لور سره په دې شرط نکاح ؤکړي، چې هغه به خپله خور یا لور دۀ ته په نکاح ورکوي اؤ مهر ئې هم دا بدل ؤګڼلے شي.

ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دے، چې:

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د شغار له نکاح څخه منع فرمائیلي اؤ شغار دې ته وائي، چې یؤ خپله لور بل ته په دی شرط په نکاح ورکړي، چې هغه به ئې خپله لور دۀ ته په نکاح ورکوي اؤ مهر ئې په منځ کښې نۀ وي.

البخاري 655

درې واړه مذهبونو حنفي، شافعي اؤ مالکي د هم دې حدیث شریف په رڼا کښې شغار تعریف کړې اؤ دلیل ئې هم دا پورتنے حدیث بللے دے.

په دې اړه د مذهبونو تر منځ د نظر اختلاف وجود لري، چې دلته ئې مختصر لیکو:

امام ابوحنیفه وائي: "کۀ څوک د بدل ګڼلو په شرط نکاح ؤکړي، شرط ئې باطل دے، نکاح ئې په ځاے ده، په خاوند مهر مثل واجبېږي".

امام شافعي وائي: "کۀ په دې ډول نکاح کښې مهر ؤ نۀ ټاکلے شي، نکاح فسخ کېږي اؤ کۀ د دواړو لپاره مهر ټاکلے شوے وي یا د یؤ لوري لخوا ټاکلے شوے وي، د دواړو نکاح صحی ده، مګر ټاکلے شوے مهر باطل دے. د دواړو لپاره مهر مثل دے".

امام مالک وائي: "دا نکاح جائز نۀ ده اؤ فسخ کېږي. (فقه جامع اهل سنت).

په دې باندې ډېر بحثونه شوي دي، چې هغه دلته نۀ ځائېږي اؤ نۀ هم دومره اوږدو بحثونو ته ضرورت شته.

### په دې اړه د احنافو نظرونه:

کۀ یؤ سړے د بل سړي د لور سره په داسې طریقه نکاح ؤکړي، د مثال په طور د زېد د لور نکاح د بکر د ځوے سره اؤ د بکر د لور نکاح د زېد د ځوی سره ؤشي، داسې چې د دواړو جینکو مهر هم جدا جدا مقرر شوے وي،نو دا دواړه نکاح جائز شوي.

اؤ کۀ مهر مقرر شوے نۀ وي، نو نکاح خو منعقده شوه، خو مهر مثل په خاوند باندې واجب شو اؤ دا کار مکروه شو.

اسلامي فقه (حنفي):

کۀ دوه کسان په دې نیت نکاح ؤکړي، چې یؤ د بل خوېندې یا د یؤ خور اؤ د بل لور نکاح کړي اؤ دا بدل مهر ؤبلل شي، نو داسې کول ګناه ده. دې ډول نکاح ته په شریعت کښې شغار وئیلے کېږي اؤ نبی صلی الله علیه وسلم داسې نکاح څخه منع فرمائیلي ،کۀ په دې شرط نکاح ؤشوه نو دواړه لوري به مهر مثل ورکوي. مهر څخه یؤ لورے هم نۀ شي خلاصېدلے (اسلامي فقه ص ۳۴۸).

فتاوی المحمودي (حنفي)

دشغار په نکاح کښې مهر مثل واجب ګرځي.

اؤ په "الدر المختار" کښې: (المختار361/2ط)

مهر مثل د ښځې له هغه مهر څخه عبارت دے چې د پلرګنی نه د هغه په څېر عمر، جمال، مال، ښار اؤ سیمه، وخت اؤ زمان، عقل اؤ دین، بکارت، عفت، علم اؤ اخلاقو کښې یؤ شان وي.

کۀ په داسې صفاتو ښځه د پلرګنی په خپلوانو لکه (خوېندې، عمه ګانې او ترۀ لوڼه) پیدا نۀ شي


ISSN201210

نو بيا به د پلرګنۍ. له يوې ښځې سره د هغه مثل ګوري کۀ بيا هم داسې ښځه پيدا نۀ شي، نو د مېړۀ قول په قسم سره اعتبار لري.

د مهر مثل د ثبوت لپاره شرط دا دے چې دوه کسان يا يؤ کس اؤ يا دوه ښځې د شهادت په لفظ سره خبر ووائي. (الدر المختار:384/2، 385)

فتاوي هنديه – حنفي

په نکاح شغار کښې شرط باطل دے . نکاح منعقده ده. هرې ښځې ته مهر مثل دے. دا داسې نکاح ده چې يؤسړے خپله لور د بل کس ځوے ته په نکاح ورکوي اؤ هغه کس خپله لور دۀ ته يا د دۀ ځوی ته په نکاح ورکوي اؤ مهر پکښې نۀ وي دا بدل يؤ د بل مهر وګڼلے شي لکه چې په "الْجَوْهَرَةِ النَّيِّرَةِ" کښې دي، مګر کۀ د بدل نکاح په عقد کښې مهر ؤټاکلے شي نو هغه په خپل ځاے دے (فتاوی هنديه 303/1).




**دمطلب خلاصه:**

داسې بدل چې په هغې کښې ځان ته ځان ته مهر ؤټاکلے شي، دا نکاح زمونږ په مذهب (امام ابوحنيفه) په نزد صحي ده، شغار نکاح نۀ بللے کيږي.

اؤ زمونږ په ټولنه کښې چې د بدل نکاح منعقده کيږي، د علماء لخوا د حنفي فقه مطابق ترلے کيږي، خو د ځينو په خيال کښې شغار ورګرځي (داسې خيال کوي چې دا خو بدل شو) چې مهر ته ئې توجه نۀ کوي. دا خطرناک خيال دے. چا ته چې ئې خپلې بي بي مهر وربخښلے وي، خو ښه اؤ کۀ ورباندې پاتې وي، نو د مهر په ادا کښې بايد چټک ګامونه پورته کړي. اؤ کۀ داسې نکاح چې مهر پکښې نۀ وي اؤ هم دا بدل مهر ؤګڼلے شي، داسې کول ګناه ده. رسول الله صلی الله عليه وسلم له داسې نکاح منع فرمائيلې دي کۀ څوک داسې ؤکړي، نو د احناقو په نزد نکاح په ځاے ده. دا شرط چې مهر بدل ؤګڼلے شي، باطل دے. په خاوند مهرمثل واجبيږي (کراهية + مهر مثل).

**خبردارے:**

په هيڅ وجه د ښځې مهر نۀ معاف کيږي اؤ د هغۀ ادا کول په خاوند فرض دي. قران وائي:

ژباړه: اؤ د ښځو مهر په ښۀ زړۀ ورکړئ (النساء4).

د ايت شريف په وروسته برخه کښې راځي:

ژباړه: البته کۀ هغوي پخپله خوښه تاسو ته بخښنه ؤکړي، نو تاسو هغه په خوند سره خوړلے شئ.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

ژباړه: کوم سړے چې د ښځې په کم يا زيات مهر نکاح ؤکړي اؤ د دۀ په زړۀ کښې د دې مهر د ادا کولو اراده نۀ وي، نو د قيامت په ورځ به د الله تعالی په حضور کښې د زنا کار په حيث پيش شي (رواه الطبراني و الاوسط سغير)

يعنی د شروع نه په دې نيت وي، چې دا هسې زباني خبرې دي ورکول اؤ نۀ ورکول ئې کوم باک نۀ لري.




## قبائيلي سيمې

اداره

د پاکستان د ټولې سيمې 196095 کم² سيمې څخه 74521کم² د خيبرپښتونخوا اؤ 27220کم² د قبائيلي سيمو (FATA) په برخه ده. دا قبائيلي سيمې د باجوړ، مومند، خيبر، اورکزئ، کُرم، سويلي وزيرستان اؤ جنوبي وزيرستان په نومونو په اووۀ قبائيلي ايجنسيو اؤ د بنو، ډيره اسماعيل خان، کوهاټ، لکي مروت، پېښور اؤ ټانک په شپږو پولئيزو سيمو (فرنټئير ريجن) اډانه دي.

د نزدې وګړوشمېر (مردم شماری) تر مخه د پاکستان د ټول شمېر 2.40% (څۀ څلور مليونه) وګړي په دغه قبائيلي سيمو کښې ژوند کوي.

تر څو قبائيلي سيمې لپه کښې کېږدو، نو ؤ به وينو، چې د سوېلي اړخ نه د باجوړ اؤ مومند سيمې د هندوکش د غرونو اؤ د هوارو ورشو تر منځه د تګ لاره ده. دې ځاے نه د جندول سيند اؤ د هغۀ ملګري خوړونه اؤ بهاندونه په پنجکوړه کښې توي شي. د جنوب په اړخ د کابل سيند ځان سره د سلالې، باړې، ګنداؤ اؤ شلمان خوړونه ملګري کړي.

د قبائيلي سيمو منځنۍ برخه کښې د خيبر، کُرم اؤ اورکزيو ايجنسۍ اؤ د کوهاټ اؤ پېښور پولئيزې سيمې پرتې دي. هم دلته نه د سپين غر لړۍ د ختيز په لور غځېدلې اؤ هسکه شوې ده. د کُرمې سيند هم دلته د سويلي لويديز نه جنوبي ختيز پلوه بهېږي اؤ د خيبرپښتونخوا د هنګو ضلعې د ټل سيمې نه په پايه کښې د سندھ سيند کښې ګډ شي. د اورکزيو سيمې څخه د مستورې اؤ خانکي خوړونه په ختيز کښې د باړې د سيند مل شي. د باړې اؤ خجورې د دړمنونو څخه د باړې سيند پېښور سره د کابل سيند بدرګه شي. د کابل سيند په سوېل کښې د ملاګورو اؤ شلمانو غرونه هسکه غړۍ ښکاري. د باړې، خانکي، کُرم اؤ مستورې سيمې د قبائيلو ټولو نه ځربې اؤ ښېرازه زمکې باندې شتمنې دي.

ISSN201210

د قبائيلي سيمې جنوبي برخه کښې د سويلي وزيرستان اؤ جنوبي وزيرستان ايجنسيو سره سره د بنو، ډېره اسماعيل خان، لکي مروت اؤ ټانک پولئيزې سيمې هم څورې دي. د سپين غر جنوب ته د سلېماني غرونو لړۍ اؤ د وزيرستان هسک غرونه ولاړ دي. د دې لوړ غرونو ټولو نه هسکه څُوکه په ډېره اسماعيل خان کښې **3847** مېټر ته رسېدلې ده. د ګومل سيند د جنوبي برخې په جنوب اؤ د کُرمې سيند د سوېل پلوه بهېږي. هم دې سيمه کښې د جندولې، کايتو اؤ ټوچۍ سيندونه بهاند دي. د پولئيزو سيمو څخه د ټوچۍ اؤ ګومل غرونه په دې برخه کښې د پاکستان اؤ افغانستان تر منځه پُوله ده.

د زمکې د پاسه اؤ د زمکې لاندې خدائے دې سيمو باندې بشپړه پېرزؤنې کړې دي. د اولسي شمېر **63%** پورې ځلمے کهول دے، چې د بشري تُوان څرګندؤنه ترې کېدلې شي. له بده مرغه دې سيمه کښې د لوست ليکه ډېره نرۍ اؤ وړه ده، ځکه چې کۀ يؤ اړخ ته ښوونځو کښې د کوچنيو د شمېر په اړه مورېلار پوهه نۀ لري، نو له بلې خوا

دا سيمه تل د نرۍ، د نخښتو اؤ جنګونو سنګر پاتې شوے دے، نو ځکه پکښې هم د سوکالۍ اؤ پرمختګ لاره کښې ګڼ شمېر خنډونه جيګ دي اؤ د اولس د ښېګړې مخنيوے کوي.




د (مياشتني وياړاشنغر) خوا د (قبائيلي وياړونه) په نوم دې برخه کښې مونږ هغه ټولو ځيرکو اؤ پوهه پښتنو ته بلنه ورکوو، چې زمونږ په دغه سيمه کښې د امن راتللو اؤ د اولس د پرمختګ د پاره خپل وړانديزونه په دې پاڼو څوندي کړي اؤ دغسې مونږ دا غږ د اولس غوږونو ته د رسولو هڅه ؤکړو. د قامونو پرمختګ اؤ سوکالي د تاريخ د يؤ اوږد مزل اؤ زيار ورکړه وي. زمونږ ژوند په يؤ حال ولاړ دے اؤ اوس وخت دے، چې پښتانۀ د خپل ژوند د ښۀ کولو د پاره يؤ غږ اؤ يؤ موټے شي. د پاکستان د کنفيډرېشن دننه د اولسواکۍ په اړه د زده کړې اؤ اولسي پوهې اړتيا نه سترګې پټولې نۀ شو اؤ ځکه دا غوره ګڼو، چې په دومره ګڼو موخو کښې بايد مونږ د خپلې قامي برخې اؤ ګټې لاس ته راؤړلو د پاره شعوري هڅې ؤکړو. کوم ملګري چې دغه لړ کښې مونږ ته خپلې ليکنې سپاري، نو هغوي زمونږ برېښنائي ليک پکارولے شي.

ادا ريه



# لوښي

فیروز اپریدے

لوښي په کوزه پښتونخوا کښې نشته.اؤ زما په خیال په افغانستان کښې هم نشته، نۀ څوک لوښې ورکول یا اخیستل پیژني، نۀ د لوښي قانون یا دود دستور چلیږي . البته په قبائیلي سیمو کښې اوس هم د لوښي ورکولو اؤ اخیستلو رواج شته اؤ خلک ئې پیژني . دا د زرګونو کلونو پخوانے دستور دے، چې اوس په قبائیلو کښې هم دا دستور رو رو د منځ نه ؤځي.

د پښتنو په منځ کښې جرګه ډیر لوی کردار لوبوي د نن پارلیمنټ اؤ عدالتونه بیخي د جرګې په لاره روان دي .پارلیمنټ هم قانون سازي کوي اؤ جرګه هم په مروجه پښتینې قوانینو مزل کوي اؤ د اولس فیصلې اؤ پریکړې کوي .

په جرګه کښې چې کوم قوانین اؤ دفعات استعمالیږي، هغې ته "د پښتو لار" یا "لاره" وائي. جرګه په دغه مروجه د پېړیو راروانو لارو او قوانینو راروانه وي . لکه څنګه وائي چې "له هر څۀ ووځه، خو له لارې مۀ ووځه" اؤ "لارې ته به راسره کیښني"، "د پښتو لار به راسره کوې" وغیره .

چې د چا د کوم کس سره لانجه شي، نو څو کسان (جرګه) راغونډ کړي اؤ د پښتو په لیاره ورته فیصله ؤکړي .

لوښي د پښتنو د لارې یوه برخه ده . خو دا په خپله قبیله یا قوم کښې نۀ شي ورکولې یا اخیستلې.بلکې دا په بل قوم اؤ قبیله کښې د خپل ځان اؤ مال د حفاظت د پاره ورکولې شي اؤ دا په پښتو لاره کې قابل قبول ده . مثلاً د یؤ بل کوم کس زما سره لوښے دے،اؤ دغه کس زما په قوم کښې ګرځي، نو کۀ چا ورسره زیاتے ؤکړو، نو زۀ بۀ خپل قوم کښې هغه کس ته جرګه ؤلیږم، چې فلانې سره زیاتے مۀ کوه، ددۀ ما سره لوښے دے.دا سړے به فوراً هغه کس پریږدي اؤ ما له به راشي، چې بس سمه ده، زۀ ورته څۀ نۀ وایم، خو دا به اوس راله جرګې ته کیښنوي.

بیا زما دا ذمه واري جوړیږي، چې زۀ خپل کفالت اؤ حفاظت کښې د دغه فریقینو صلح جوړه ؤکړم.

لکه څنګه چې ؤوئیلے شول، چې دا یؤ کس په خپل قوم کښې بل کس له نۀ شي ورکولے، بلکې په پردۍ قبیله کښې ورکولې اؤ اخیستلې شي .

لکه افریدي په شینوارو کښې یا اورکزي په افریدو کښې لوښے ورکړي، نو بیا دوي په دغه منطقو کښې ازاد ګرځي، ځکه چې د پښتنو دښمنۍ وي، نو دوي چې د یؤ بل سیمې یا منطقې له درومي، نو د دښمنانو یا د شوکمارو یا نور قسم بونګه اخیستونکو له ډاره به ډاډه نۀ شو ګرځیدلے، یا به ئې جوپې لرګي اؤ د تجارت سامان نۀ شو وړلے راؤړلے، نو بیا دغه لوښي به چې د چا په هغه منطقه یا قوم کښې وو، نو که څه پېښه به ؤشوه، نو فوراً به ئې هغه لوښے اخیستونکې کورنۍ له پیغام ورکړو. هغوي به د

څو کسانو سره راغلل اؤ دغه کس به ئې راخلاص کړو.
لاره ئې معلومه وه، ځکه چې چا هم د لوښې اخیستونکې هغه کس چې لوښې ئې ورکړے وو، د ورکول یا خلاصولو څخه انکار نۀ شو کولے اؤ کۀ داسې به ئې وکړل، نو هغۀ ته به ئې کبرژن وئیل اؤ یا به ئې د پښتو د لارې د یو جز "د کبر غړ" وګڼلے شو. بیا دغه کبرژن اؤ د دې مظلوم کس به سره نوې دښمنې روانه شوه. تر دې چې کله جرګه به کېښناسته، نو دغه کبرژن به ئې ورته پړ کړو، چې تا د کبر غړ ولې کړے دے؟
بیا به دا کس په لار پړ ؤ، ځکه چې د مروجه قانون یا د پښتو د لارې نه به انکارې شوے ؤ.
چا چې د لوښې احترام ونۀ کړو اؤ هغه نیولے یا مړ کړے بندې جرګې ته نه کیناستلو، نو هغه به د پښتو د لارې په حساب پړ ؤ.
دې فعل ته "کبر" اؤ "تیر وهل" هم وائې.
د دغه پښتو لارې یعنې لوښې له کبله غېر پښتون کس یا هندوانو سیکهانو به هم ازاد تګ راتګ اؤ تجارت کولے شو.
چونکه پښتانۀ زیاتره بې وسه وو اؤ اکثر به ئې شوکې اؤ تېښتې هم کولې، خو د لوښې له کبله به ئې بیا څرګند څۀ کولے نۀ شو.
لوښے اخیستونکې لوې تېر اؤ تکړه وسله داره اؤ عزتداره خلق وې. کمزورے سړے لوښے نۀ شې اخیستے، ځکه چې کۀ څۀ پېښه ؤشوه، نو بیا دا لوښے اخیستونکے به جنګ اؤ بدۍ ته هم غاړه ږدې.
کۀ چا به په خپل حق یا خپل مال یا بدل کښې کښې کوم کس ؤنیولو، نو هغه به لوښې واله پسې ورغلو. دغه نیونکې به ورته خپل عذر پیش کړو چې په دغه کس زما حق ؤ. هغۀ به د هغه نیونکې ته د دغه برامته (برامده) کس په سر ضامن ورکړو چې دا به تاسره جرګې ته کېښېنې اؤ کۀ حق دې پرې واړولو، نو دغه حق به درکوې، ګنې زۀ به ئې درکؤم، خو اوس دا کس راخوشې کړه، چې زما سره ئې لوښے دے اؤ ما ته پېغور جوړېږې. دغه کوم کس به چې لوښے ورکړے ؤ، نو هغۀ به هم د دغه لوښې اخیستونکې کس د قول اؤ ضمانت ډېر احترام کولو اؤ هغه پیسې، مال یا هر څۀ چې ئې حق ورکول وو، په خپل وخت راؤرسول اؤ لوښے اخیستونکې له به ئې رسول ضرورې وو.
لوښے اخیستونکې به د خپل لوښے ورکوونکې حق هغه حقدار ته ؤرسولو، په دا سبب به دا لار د پښتو د قانون مطابق روانه وه.
د لوښې ورکولو اخیستو طریقه:
لوښے ورکونکې به څو کسان د ځان سره واخلې اؤ د اخیستونکې کور له به ئې د ګډانو سره بوځې هغه به د هغۀ په حجره کښې دا ګډان حلال کړې اؤ دعا به ؤشې. بس دغه د لوښې اګریمنټ دے، اؤ د ګډانو غوښه به په ټول کندې یا ټپه ؤخوړلې شې چې سبا دا خبره معلومه وې چې هوا دا لوښې اخیستے شوې وو.
لوښې اخیستونکې به هم د خپلې قوم مشران راغونډ کړې وې، نو د هغوې په مخکښې به دا مرحله ترسره شې، نو بس دغه خلک به وپوهېږې چې فلانکې د فلانکې نه لوښے واخیستلو.
دا قانون په داسې پښتنې ټولنو اؤ سیمو کښې رارواں دے، چرته چې حکومتې عملدارې نۀ وې یوه قبائیلې لاره ګودر وې اؤ په قبائیلو کښې تر اوسه حکومتې عمل دارې نشته، نو ځکه دا نالیکلے قانون سینه په سینه رارواں دے.


ISSN201210




# قبائيلي سيمه:
# د منځنۍ اسيا بازار ته يوه پراخه اؤ خوندي لاره

**اداره**

د پاکستان سويلي لوئيديز کښې پرته قبائيلي سيمه د خيبرپښتونخوا په ختيز اؤ د بلوچستان په جنوب کښې خوره ده. قبائيلي سيمه په لويديز اړخ د افغانستان تر لارې د منځنۍ اسيا د خپلواکيو اؤ روسيا پورې د پاکستان اؤ هند د پاره د تجارت د توکو ارزښتمن کنډاو دے، چې کۀ په دغه سيمو کښې د سولې اؤ امن راوستلو د پاره پاکستان اؤ هند خپلو کښې لاسونه ورکړي، نو نۀ يوازې به دا سيمه پرمختګ وکړي، بلکې دې سره سره به د پاکستان اؤ د هند صنعتي اؤ تجارتي حجم ورسره هم زياتېدلے شي.

له بده مرغه، دا وخت د ترهګرۍ پر ضد د نړيوالې نخښتې د پاره دا غرونه ټاکلي شوي دي، کومه نخښته چې د دې اولس په ژوند کښې د نورو ستونزو، کړاو اؤ د نړۍ امن د پاره د ډرکې لاره ګرځې.

پاکستان، هند اؤ افغانستان کۀ د منځنۍ اسيا هېوادونه اؤ چين اؤ ايران سره سره روسيا خپله ملګرې کړي اؤ په دې سيمه کښې د سولې راؤړلو هڅه وکړي، نو دا به د ايشيا د ټولو هېوادونو د پاره د پرمختګ اؤ سوکالۍ زمنه وي.

د قبائيلي وياړونو په دې پاڼو کښې بايد ملګري مونږ سره د دې شتمنې سيمې د قدرتي پنګو اؤ د صنعتي پېل د امکاناتو په اړه خپل ليکونه شريک کړي، تر څو وکړے شو، چې په اولس کښې د دې سيمې د جغرافيائي ارزښت اؤ په راتلونکي کښې د پرمختګ په اړه پوهه راوستلے شو.




## بحرالادب

## [اعراب اؤ اصلاحات]

اروابناد شېرشاه ترخوي

**حروف (توري):**

د مختلو اوازونو د پېژندګلو د پاره چې کوم علامات د ليک په شکل کښې ژبپوهانو مقرر کړي دي ، نو هغې حروف يا حرفونو ته [توري] وائي۔

**حروف تهجي:**

حروف تهجي يعنې (ا ب پ ..... ) هغه حرفونه دي، چې د هغې نه د يوې ژبې لفظونه جوړيږي ۔ د پښتو ژبې حرفونه لاندې تفصيل سره ورکولے شي:

ا۔ب۔پ۔ت۔ټ۔ث۔ج۔ځ۔څ۔ح۔خ۔چ۔د۔ډ۔ذ۔ ر۔ړ۔ز۔ژ۔ږ۔س۔ش۔ښ۔ص۔ض۔ط۔ظ۔ع۔غ۔ ف۔ق۔ک۔ګ۔ل۔م۔ن۔و۔هـ۔ه۔ء۔ي۔ے

کۀ په دې حروف تهجي کښې د "ن" نه وروستو "ڼ" حرف شامل کړے شي، نو بيا به د پښتو ژبې د حروف تهجي شمېر دوه څلوېښت شي [ګنې نو صحيح تعداد ئې يؤ څلوېښت دے۔ په دغه پورته ذکر شوؤ حرفونو کښې څلور حرفونه د پښتو ژبې ځانګړي ګڼلي شي، چې دا دي : ځ۔څ۔ږ۔ښ دا حرفونه د پښتو ژبپوهانو په دې وجه مقرر کړي دي، چې د پښتو ژبې د مختلفو لهجو ويونکو ته په ليکدود اؤ وېنا کښې اسانتيا راشي۔

د تلفظ په حواله د دې ذکر شوؤ حرفونو لاندې مختصر تفصيل ورکولے شي۔

**ځ (زيم) :**

د "ځ" (زيم) حرف تلفظ بعضې قبيلې په "ز" او بعضې په "ج" کوي، لکه "زان، جان، ځان".

ځ (سيم):

د "څ" (سيم) حرف تلفظ د غرونو تر مخه په "چ" او "س" سره ئې بعضې قبيلې کوي، لکه "چرګند، سرګند، څرګند" يا لکه "چادر، سادر، څادر".

ږ (ږې):

د "ږ" (ږې) حرف اواز د "ګ" او "ژ" سره ادا کيږي، لکه "زمونګ، زموژ، زمونږ".

ښ (ښين):

د "ښ" (ښين) حرف تلفظ د قبيلوي لهجو په اختلاف د "خ" او "ش" سره کولے شي، لکه "خکاره، شکاره، ښکاره".

دغسې نور حرفونه په خپل ځاے خپل خپل اواز سره ادا کيږي.

**تذکير او تانيث(مذکر او مؤنث):**

ژبپوهانو حروف تهجي په دوه ډلو کښې ويشلي دي: **1)** مذکر **2)** مؤنث

د "مذکر" او "مؤنث" دواړو حرفونو ذکر دلته په تفصيل سره کولے شي:

**مذکر حرفونه:**

ا-ج-ځ-څ-د-ډ-ذ-س-ش-ښ-ص-ض-ع-غ-ق-ک-ګ-ل-م-ن-و-ء

**مؤنث حرفونه:**

ب-پ-ت-ټ-ج-ح-خ-ر-ړ-ز-ژ-ږ-ط-ظ-ف-ه-ی-ے

**شمسي او قمري حرفونه:**

شمسي او قمري حرفونه د عربۍ د حروف تهجي سره علاقه لري، چې وضاحت ئې لاندې په تفصيل سره کولے شي.

**شمسي حرفونه:**

شمسي حرفونه د عربۍ ژبې هغه حرفونه دي، چې مخکښې ترې نه "ال" راشي او "ل" وسره نۀ وئيلے کيږي، لکه "الشّمس". دا حروف ټول په شمېر څوارلس دي، چې هغه دا دي:

ت-ث-د-ذ-ر-ز-س-ش-ص-ض-ط-ظ-ل-ن

لاندې د دې حرفونو مثالونه ورکولے شي:

| | |
|---|---|
| ت: مصباح التاريخ | ث: تحت الثرىٰ |
| د: جمال الدين | ذ: بري الذمة |
| ر: صاحب الراي | ز: قائمة الزاوية |
| س: دار السلطنة | ش: اظهر من الشمس |
| ص: علم الصحة | ض: ما في الضمير |
| ط: مدني الطبع | ظ: بحر الظلمات |
| ل: جامع اللغات | ن: نصف النهار |

**قمري حرفونه:**

قمري حرفونه د عربۍ هغه حرفونو ته وائي، چې وړاندې ترې "ال" راشي او هغه ورسره وئيلے شي، لکه "الفقر". دا حرفونه په شمېر څوارلس دي:

ا-ب-ج-ح-خ-ع-غ-ف-ق-ک-م-و-هـ-ی

| | |
|---|---|
| ا: ربيع الاول | ب: فارغ البال |
| ج: ذوالجلال | ح: في الحال |
| خ: دار الخلافة | ع: دار العلوم |
| غ: عالم الغيب | ف: ابوالفضل |
| ق: شق القمر | ک: عبدالکريم |
| م: ضرب المثل | و: في الواقع |
| هـ: بوالهوس | ی: اليوم |

**معجم يا منقوطه حرفونه:**

کوم حرفونه چې نقطې لري، نو هغې حرفونو ته "معجم" يا "منقوطه" حروف وئيلے شي، چې لاندې ئې تفصيل ورکولے شي:

ب-پ-ت-ټ-ث-ج-خ-چ-ذ-ز-ژ-ږ-ش-ښ-ض-ظ-غ-ف-ق-ن


ISSN201210

### مهمل یا غیرمنقوطه حرفونه:

کوم حرفونه چې نقطې نهٔ لري، نو هغو ته مهمل یا غیر منقوطه حرفونه وئیلے شي، چې دا دي:
ا-ځ-ح-د-ډ-ر-ړ-س-ص-ط-ع-ک-ګ-ل-م-و-هـ-ء-ی-ے

### د علت حرفونه:

په عربي ژبه کښې د "علت" حرفونه درې دي، چې هغه دا دي: ا-و-ی

خو په پښتو ژبه کښې دغه درې واړه حرفونه هم په حروف علت کښې راځي اؤ ورسره دوه حرفونه یعني "ء" اؤ "ه" هم شامل دي، ځکه چې دا حرفونه هم په ترون کښې د اوږد اواز سره وئیلے شي. نو دغسې په پښتو کښې د علت حرفونه ټول پنځهٔ شو اؤ هغه دا دي:
ا-و-ی-ء-ه

### د ابجدو حرفونه:

د ابجدو حرفونه د عربي ژبې د حروف تهجي په بنیاد رغ کړے شوي دي، نو هر کله چې په پښتو ژبه کښې مونږ د ابجدو حساب په کار راولو، نو باید چې په پښتو کښې مستعمل د پښتو ژبې ځانګړي حروف تهجي ورسره هم د اعداد په لړ کښې شامل کړے شي. ځکه چې په عربي ژبه کښې دغه حرفونه نشته دے. د عربي ژبې د حروف تهجي د ابجدو ټول شمېر اتیشت (28) دے. دا شمېر د مخصوصې قاعدې له مخه وضع کړے شوے دے، نو دغه شمېر په خپل ځائے حقیقت لري. دغه زیاتول د اعدادو په لحاظ نهٔ دے پکار. البته قائم مقام د حرف به حرف ګرځول سودمند وي. دغسې به د پښتو د حرفونو مسئله هم حل شي اؤ قاعده به هم ګډه وډه نهٔ شي. کهٔ د اواز په بنیاد [پ ت ټ] د [ب]حرف ـ [ځ څ] د [ج] حرف ـ [چ] د [خ] حرف ـ [ډ] د [د] حرف ـ [ړ ږ ژ] د [ز] حرف ـ [ښ] د [ش] حرف اؤ [ګ] د [ک] حرف قائمقام شي، نو د پښتو د حرفونو عدد به هم په دغه د ابجدو تر مخه مقرر شي.

### د عربي ژبې د حرفونو ابجد دا دي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ابجد | 1 | 2 | 3 | 4 |
| | ا | ب | ج | د |
| هوز | 5 | 6 | 7 | |
| | ه | و | ز | |
| حطی | 8 | 9 | 10 | |
| | ح | ط | ی | |
| کلمن | 20 | 30 | 40 | 50 |
| | ک | ل | م | ن |
| سعفص | 60 | 70 | 80 | 90 |
| | س | ع | ف | ص |
| قرشت | 100 | 200 | 300 | 400 |
| | ق | ر | ش | ت |
| ثخذ | 500 | 600 | 700 | |
| | ث | خ | ذ | |
| ضظغ | 800 | 900 | 1000 | |
| | ض | ظ | غ | |

د عربي ژبې د ابجدو د حروفو سره قائم مقام د پښتو ژبې د حرفونو اؤ ابجدو تر مخه د قیمت تفصیل:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 2 | 400 | 3 | 7 | 30 | 20 |
| ب | ت | ج | ز | ش | ک |
| پ | ټ | ځ.څ.چ | ړ.ژ.ږ | ښ | ګ |
| 2 | 400 | 3.3.3 | 7.7.7 | 30 | 20 |

([بحرالادب] به د لړۍ په توګه وخت په وخت خپرېږي. د [تنقیدي غونډو] روودادونو سره به د [بحرالادب] برخه لړه یا ډېره کېږي) اداره

# سیمبول (Symbol)

**کتابتون ټولنه**

"سیمبل" یا "سیمبول" چې عربي انډول یې [علامت]، فارسي [نماد] أو پښتو کښې [پیلام] لري، په ټولیز ډول هغه څیز [پدیده] ده چې له ځان پرته د بل څیز یا پدیدې څرګندویه اوسي. په ژبه او ادب او بیا شعر کښې هغه ویے دے چې د آرې او ټاکلي معنې پرځاے یې یوه بله معنا خپله کړې وي. لکه په اوسني شعر کښې چې له «نمر» څخه «ازادي» معنا اخیستلې کیږي. په بله وینا، لمر راسیمبولوي. په دودیز شعر کښې له «نمر» څخه زیاتره د عیني انځورونو [تشبیهـ، استعارې...] په رغاونه کې کار اخستلے کېدلو، لکه:

[مخ دې لکه نمر]، [د نمر غوندې] یا په اړوندو ترنګونو «نمر مخې» او ځانته د سیمبول په توګه یې د کارونګ چرته ښکاره نیمه پیدا شي، لکه د رحمان بابا په دې شعر کښې:

چې اسمان یې مخ پټ کړے په سحاب وو
خداے و ماوته ښکاره کړ هغه [نمر] بیا

سلېمان لایق ترې په انقلابي سرود کښې بیا هم تشبیهي تولوال ترنګ [اضافي ترکیب] رغولے دے:

ګرم شه! لا ګرم شه! په [د ازادۍ نمره!].

تشبیهـ او استعاره دواړه انځوره کۀ عیني وي یا ذهني، هله پر سیمبول (Symbol) اوړي، چې له تشبیهـ نه [مشبه] لرې کړے شي او [مشبه به] پاتې شي او له استعارې نه چې مستعارله هیسته شي او [مستعار منه] پاتې شي (له استاد غضنفره په مننه). هرګوره، دا ورانپوهاوے ؤ نۀ شي چې په اوسني کره شعر کښې کارېدلي او کارېدونکي سیمبولونه، یوازې له شتو انځورونو [تشبیهاتو او استعارو] څخه د یاد شوي [حذف] زېږنده دي، بلکې د اړوندو شاعرانو د خپل نوښت او څۀ ناڅۀ د الهام او لاروۍ ییږه هم ګڼلے کېږي.

د پښتو کلاسیکپېر شعري سیمبولونو، هم لکه د نومړو انځورونو غوندې زیاتره له فارسي. هغه الهام اخېستے، لکه واخلې [لعل] د شونډو، [بادام] یا [نرګس] د سترګو، [دام] یا [سنبل] د زلفو د سیمبول په توګه. خو دا چې په پښتو کښې یې هماغه آر انځورونه ډېرکارولے شوي دي، نو هغه لومړنے راکښون نه لري. هرګوره، کۀ کوم پښتو شاعر ورته خپله پښتوئیزه جوله او جامه وراغوستې وي. یؤ څۀ څوند و اغېز راخپلولے شي. د ساري په ډول ئې د [لب] په ځاے [شونډې]، د [چشم] په ځاے [سترګې] او د [زلف] په ځاے [زلفې] په پام کښې نیولې وي او اړوندسیمبولونه یې ډېرګړي [لالونه، بادامونه، دامونه] کارولي وي؛ سنبل خو بې له هغې په پښتو کښې یؤ {نوږ نوم} [اسم جنس] دے او ډېرګړے هم کارېدلے شي.

څنګه چې له ښۀ مرغه په زیاترو ورانديې کړو نوښتګرانه اوسنیو ښېلګو کښې سیمبولونه ښایسته ډېر راغلي دي، نو دغلته یې له نورو ښېلګو نه تېرېږو.

د حمنا پبلیکېشنز پښتونخوا لخوا د کوز دیر د خادکزو سیمې د ځلمي شاعر **سدهېر ساده** ورومبي. شعري ټولګه **لوظ** خپور شوے دے، چې د پښتونخوا هر غوره کتابتون نه ئې ترلاسه کولے شئ. ویاړ ملګري سدهېرساده ته راتلونکي کښې د لا بریالیتوب دعا کوي.



ISSN201210




ملګرو! يؤ بل نه ځارېږئ!
ما د محفل ياران ليدل چې خاؤرې شونه

چې کله ځې، کله ؤدرېږې
په زړۀ دې څۀ دي؟ را ته ؤوايه حالونه

پلؤ په ځان پسې راکاږي
خالقه خدايه! مېلمنه به د چا وينه؟

باهو په لاس ګوته په ګوته
زرګره! ټوله دې ياري، ته جوړه کړمه

نن مې اشنا ليدلے نۀ دے
لکه د بنګو پياله ډوبه ناسته يمه

د لوئې لارې مسافره!
په ديدن موړ شوې، کۀ مخ بيا در واړؤمه

ښنګه خوارۀ خوارۀ راګورې
لمن را دېخوا کړه، چې زړۀ در واچؤمه

زما پرې سپينه خلۀ توريږي
د رنجو خال په زنه مۀ ږده، غل به شمه

مبارکي راکړئ ملګرو!
د تومتونو سره يار قبوله کړمه

ځان ئې زړو جامو کښې جوړ کړو
لکه چې وران کلي کښې باغ د ګلو وينه

په ما دې ټول کلے خبر کړو
په تا دې يؤ دادا خبر شو، زړۀ دې چوينه

ښوک به دې مړ کړي خپله ياره!
ما ته د لار په منځ کښې مۀ نيسه ګلونه

ديدن د ګلو غنچه نۀ ده
چې د رېبار په لاس ئې يار ته ؤلېږمه

پيره! منګول مې په سر نيسه!
د منږرو مارانو سېل مې په سر ځينه

په کوم زيارت دې سوال قبول شو
را ته ئې ښايه، چې سرتوره ورله ځمه

په سر نرۍ لوپټه نۀ وړم
ستا د ابۍ درنې خبرې وړمه

دا سر ترلې مور دې مړه شوه
د پيشو ميو سره بيا نېغه ناسته وينه

لېونۍ بيا تنور لمبه کړو!
د ډوډۍ ټپ ئې ښوارلسم کلي ته ځينه

د مسافر يار ځنکدن دے
د کليمې په ځاے وطن وطن کوينه

هلکه! سپينې جامې ګرځې
رب دې مئېن کړه، چې ښېرن دې ؤوينمه

بنګړي دې اوس هم راسره دي
ماتې توتې ئې ښکولؤم، تا يادؤمه

زۀ ئې په سپينه توره نۀ يم
زۀ ئې په دې يم، چې کړه له خياله ځينه

ISSN201210

# د ادبي نوعو پېژندګلو

**کتابتون تولنه**

**ګرامر (Grammer):** دهغو قواعدو او اصولو مجموعه ده چې په ژبې کښې د صحیح لیکلو او لوستلو له پاره باید مراعت شي .هره ژبه ځان ته خاص سیستم او قواعد لري . کۀ چرې د جملو په جوړولو کښې دژبې قواعد او سیستم په نظرکښې وُنۀ نیولے شي، نو کومې جملې چې دلیک له پاره جوړیږي، هغه به بې معنا او بې مفهومه وي.

**ژبه او لیك (Language written):** ژبه دټولنیز ژوند سره سمه منځ ته راغلې ده، ژبه دانسانانو تر منځ دخبرو کولو، پوهولو را پوهولو یوه وسیله ده لیک د ژبې، ژبنیو کلمو رسم دی . دژبې د پیدا ښت څخه بې شمیره کلونه وروسته لیک منځته راغلے، نو ځکه څۀ کلیمې چې له ژبې راوځي، هماغسې باید ولیکلے شي.

**صرف (Morphology):** مورفولوژي د یوناني کلمو "مورفو" او "لوجي" څخه چې د شکل او صورت معنا لري، جوړه شوې ده . په لغوي لحاظ دا کلمه د یوې ژبې د لفظي اشکالو دعلم ، پوهې او پېژندنې په معنا راغلې ده . اوس داسې تعریف شوې "مورفولوژي د تشریحي ژبپوهنې یوه څانګه ده . په هغې کښې د یوې ژبې مورفیمونه او دهغو جوړښت تر څېړنې او مطالعې لاندې نیولے کېږي".

**هنر (Artistic skill):** د یوِ کسب ،صنعت ،فن ، اطلاعاتو او تجربو د ټولو عملي قوانینو پیژندلو ته هنر وائي . په اوسنی اصطلاح په یو فن کښې مهارت ، لیاقت او قدرت لرلو ته هنرمندوائي.

**خاکه (Synopsis):** د کار هغه پلان ، لنډیز ، کړنلارې او خامې نقشې ته چې دمضمون یا کتاب تر لیکلو دمخه جوړه شي [یعنې دڅېړنې له پاره چې کومه ټاکلې سکالو [موضوع/سرلیک] په بابونو ، فصلونو ،مباحثو او نورو وُویشلے شي، هغې ته خاکه (Out-line) وائي .

**نظم (Poetry):** نظم په لغت کښې دملغلرو پېیلو ته وائي او په اصطلاح کښې نظم د ژبې او ادبیاتو هغې برخې ته وائي، چې وزن ، قافیه او یو مخصوص اهنګ وُلري . د نظم عبارت عموماً د ژبې په قواعدو او اصولو باندې برابر نۀ وي، کله مبدأ د خبر وروسته او کله فعل د فاعل او مفعول څخه مخکښې راځي .

**شعر (Poem):** شعر د یوُ ځانګړې ذهني او عارفانه حالت زیږنده دے، چې د هغۀ په نتیجه کښې شاعر د چاپیریال د شیانو او انسانانو سره یوُ ډول روحي او ذهني اړیکه پیدا کوي، چې دغه اړیکه د احساس او فکر د تحریک سبب ګرځي او شاعر خپله پنځوُ نه په دې انفعالي حالت (الهام ) کښې وړاندې کوي . شعر په موزون بیان د خیال او فکر عاطفي تړون دے . په ټولیزه توګه شعر د شکل له مخې په دوه برخو ویشل کېږي:

**(الف) دشعر ډولونه :**

1. غزل او ډولونه یې 2. آزاد شعراو ډولونه یې
3.اډانه (انځور یا ادبی طرحه) 4. آزاده منظومه
5.قطعه 6.بوله ( قصیده) 7.مستزاد 8.ترجیع بند 9.ترکیب بند 10.ټول قافیز 11.یوئیز ( تک بیتونه) 12.دویزه (مثنوي) ، 13.دریز (مثلث)
14.څلوریز(مربع) ، 15.پینځیز (مخمس)
16.شپږیز (مسدس) 17.اوویز (مسبع)
18.اتیز(مثمن)، 19.لسیز(معشر) 20.څلوریزه(رباعي)


ISSN201210

لا إله إلا الله محمد رسول الله

مونږ ځار شو د خپل
نیازبین اؤ سپېڅلي
حضرت محمد صلی الله علیه وسلم
د پښو د خاورو نه هم

د بیان د ازادۍ لاپې کوونکي د
نړۍ د مسلمانانو جذبات ولې نۀ ویني؟

د مذهبونو اؤ پیغمبرانو سپکاوے دې
په ټوله نړۍ کښې جرم ؤمنلے شي



د لاسونو نیشتوالے هم د تعلیم په لاره کښې دې ځلمي ته دیوال شوے نۀ دے . کوم ځلمي چې د شْنې شونډې خندا د پاره خپل ارزښتمن وخت د تعلیم ترلاسه کولو په ځاے ټوقو ټقالو کښې تیروي، دا انځور هغوي د پاره یؤ خبرلوڅه اؤ ریښتونے پیغور دے .
د راتلونکي وخت د پاره نن تعلیم ترلاسه کړئ اؤ د قام ویاړ شئ!



ژوند زمونږ نه د لوي همت سره سره د کار په پیل کښې دا غوښتنه هم کوي، چې مونږ وړومبی دغه کار ته زیر شو. د لارې نیغ کارۀ ګوتپیږونه، ځْوئیندې، لْوړې ژورې، ستونزې، غوښتنې اؤ بیا د مرام منطقي نتیجو ته هم ځیر شو. کۀ چرې داسې ؤ نۀ کړو، نو ټول ژوند به د لاسونو مْروړلو نه پرته بل څۀ ؤ نۀ کړو.
څوک وائي، لار د ختو نشته و اسمان ته -:- زۀ به لار درته پیدا کړم په هنر



اوبۀ چې د قدرت څومره لویه پیرزو ده، دومره ئې په لګښت کښې مونږ پاملرنه نۀ کوو اؤ له بده مرغه د ځنګلونو غوځولو اؤ د اوبو پاملرنه نۀ کولو سره مونږ د یؤ لوي ازمیښت پلوه لاره نیولې ده . بیا په لارو کوڅو کښې چې کوم بمبې دي، یؤ خو هغه د لوښي په ځاے پنځۀ برخې زیاتې پکاریږي اؤ بل دا چې زیاتره دغه بمبې خرابې شي اؤ څوک ئې نۀ سموي .
راځئ چې اوبۀ د خپل راتلونکي کهول د پاره خوندي کړو.

BACHA KHAN TRUST
باچاخان ټرسټ
مونږ پښتنو ماشومانو ته ویړیا تعلیم ورکوو دغه لړ کښې به ستاسو مالي مْرستې د قام د راتلونکي د پاره صدقه جاریه وي اؤ دې تیارو کښې به د رڼا څۀ وړانګې ستاسو ورکړه وي .
له اړخه:
عوامي نېشنل پارټي
سعودي عرب څانګه
باچاخان ټرسټ ایجوکیشن فاؤنډیشن
WYAARH advertise






































# سوات کښې دلوبو کلیزه مېله




په سوات کښې چې د کله نه د لوبو دغه کلیزه لړۍ پېل کړے شوې ده، نو ژوند بیا هم ځل بیا ساه اخستلې ده اؤ د دغه مرورې سیمې په سترګو کښې د ژوند رڼا موسېدلې ده۔ مونږ د خیبرپښتونخوا د حکومت اؤ ائي ایس پي ار نه دا هیله لرو، چې د پښتونخوا په نورو ځپلو سیمو کښې به هم داسې ګامونه پورته کړي، تر څو مرغیژن روحونه د ژوند اؤ خندا خوند واخلي۔

**( ب) اولسي نظمونه**: 1.مقام 2.بګتۍ 3.چاربیته 4.لوبه 5.بدله 6.داستان 7.سروکې(نیمکۍ) 8.لنډۍ 9. د نکلونو غړونه 10.کاکړۍ غاړې 11.د آتڼ ناري 12. بابولالې 13.د وړو مشاعرې 14.منظوم فالونه 15.انکۍ(چغیان) 16. کیسۍ(شبې) ،17. تاریخي نارې 18.د مروتو کسرونه 19.منظوم نکلونه 20.د ښادۍ سندرې 21. ډوله نور.

**د شعر شکل (Form Poem)**: د یو ادبي اثر وړاندې کول په ځانګړي فورم یا قالب کښې د هماغه اثر یا شعر شکل ګڼلے کېږي لکه : غزل ، بګتۍ اؤ داستان.

**د شعر مضمون**: ټول ببلا ببل ټولنیز، اقتصادي،کلتوري، عناصر، مفاهیم، مفکورې، واقعیتونه، احساسات اؤ خاطرې کۀ په عشقي، حماسي یا په بله هره بڼه ؤشي، دېنځول شوي اثرمضمون بللے کېږي.

**د شعر ردیف**: هغه کلمه یا جملې چې په یؤ مقفي شعر کښې وروسته له ټولو قافیه والو مصرعو په یؤ شکل اؤ یوه معنا تکرار راځي ردیف بللے کېږي.

**نثر(Prose)**: نثر په لغت کښې پاشلو، شیندلواؤ خورولو ته وائي اؤ په ادبي اصطلاح کښې نثر روان عبارت اؤ ساده لیکنه ده، چې د وزن اؤ قافیې مراعات پکښې نۀ کېږي . لوي لوي مضمونونه ا ، مطلبونه پکښې ځائیږي.

**کیسه (Story)**: په ډیکشنرۍ کښې ستوري دې ته وائي، چې د هستوري (تاریخ) د کلیمې یؤ لنډیز دے، چې د روایت بیانولو یا د رامنځ ته شوې پېښې معنا ورکوي. کیسه یا داستان د هغو کارنامو اؤ پېښو بیان دے، چې پکښې د ژوند په هر اړخ څۀ نا څۀ ذکر موجود وي. د کیسو ډولونه د هغو د اندازو په نسبت ډیر دي.

**لنډه کیسه (Short Story)**: لنډه کیسه یؤ داسې فن دے، چې ځان ته ښکلئیز اصول اؤ فني غوښتنې لري . لکه کوټلے تاثیر، رمزیت (سمبولیکوالے) اؤ د موادو فنکارانه اوډل. هره کیسه باید تلوسه، پیل ،منځ اؤ پاے سره د یوې انتباهي اؤ هیجاني پایلې وي. کیسه باید له پیل څخه منطقي وي. پلاټ اؤ بیان ئې منطقي ، کافي منسجم اؤ له ولولو ډک وي . د کیسې پلاټ (جوړښت) د احساساتو، فطري درک اؤ ایډیاؤ څخه جوړېږي.

**ناول(Novel)**: ناول لاتیني کلیمه ده . د عجیبه خیز په معنا اؤ په ادبي اصطلاح کښې د هغو انساني جذباتو اؤ احساساتو بیان کوي، چې په اظهار ئې د نورو انسانانو همدردي پیداشي. په ناول کښې د انساني ژوند لوړې ژورې موجودې وي. د انسان له پیدایښت څخه تر پایښت پورې چې کوم واقعات پېښېږي، د ټولو تصویرونه د خپل فن، سکالو [موضوع] ګرځوي. د ناول دنیا د حقیقي دنیا په شان د زمان اؤ مکان اؤ په نړۍ کښې د پېښو د ریښتینوالي پر بنا ولاړه ده.

**ډرامه(Play)**: ډرامه یوناني کلیمه ده، چې د پراخ معنا لري . د "نړۍ مثال د ستیج دی اؤ اوسیدونکي یې په حیث د اداکارو دي". ډرامه د ژوند نقل درسم رواج هنداره اؤ حقیقي عکس وي

**طنز**: د طنز لغوي معنا افسوس کول، ریشخند وهل، مسخرې کول، پېغور ورکول، په زمز اؤ کنایه خبرې کول دي اؤ په اصطلاح کښې د ژوند د واقعیتونو لټول دي، چې په کنائیزو خبرو ځرګندېږي اؤ خندا پکښې بنسټیز توکے دے.طنز

په پینځه ډوله وېشل کېږي چې لاتیني نوم‌ونه یې دي:
1.کنایه 2.فلتان 3.پام‌قلېت 4.اپیګرام
5.پېروديه.

**مونوګراف (Monograph)**: هغې رسالې ته وائي، چې يوازې پر يوه موضوع په مفصله شرح ؤلیکل شي. اکثراً ئې د پوهنځیو د ورستي کال محصلین دخپل ډیپلوم د دفاع له پاره وړاندې کوي.

**مقاله (Article/Essay)**: مقاله غیرې داستاني لیکنې ته وائي، چې د فکر محصول د شننې، ارقامو، اؤ حقایقو په ژورې رڼا کښې د یوې روښانه پائلې سره ؤکړې اؤ خپل علاقمندان د تازه اؤ مهمو پېښو څخه خبر کړے شي یا مقاله د خیال د قوت محصول دے، کۀ د خیالاتو چینه جاري وي، نو ژوند مخ په وړاندې ځي. مقاله اصلاً په یوې ټاکلې موضوع پراخه اظهار خیال ته وائي. مقاله باید د تنقید له دائرې څخه بهر ؤ نۀ ؤځي یا په بل عبارت مقاله په نثر لنډه لیکنه ده چې په غوره اؤ اسانه توګه د یوې ځانګړې موضوع څخه بحث کوي.

**رساله(Treatise)**: وړې مجموعې، وړوکې کتاب ته وائي په اردو ژبه کې رساله مجلې ته وائي، نو ځکه ئې داسې تعریف کړی "د څو تنو د مضمونونو ټولګه ده، چې په ټاکلې مهال خپرېږي". په ایران کښې هم له ډیر پخوا څخه د مقالې لیکلو رواج درلود. منتها هغه ئې هم رساله بلله.

**ژورنالیزم (Journalism)**: په لغت کښې د ورځنۍ یادداشت معنا ورکوي اؤ د تعریف له مخې د مجلو، راډیو، ټلوېزیون، انټرنېټي ګورټپانو، لیکنو، ترتیب اؤ سمبالتیا اؤ ډنډوره چارو ته وائي. عن د فکر اؤ بیان ټول صورتونه د ژورنالیزم په دائره کښې داخلېدے شي یا په ساده وېنا ژورنالیزم د یۀ سیاسي اجتماعي انسټیټوټ څخه عبارت دے، چې د مختلفو ژورنالیستکي ژانرونو په وسیله ورځنۍ رواني پېښې ټولوي اؤ د ټولنیزو رسنیو له لارې ئې د خلکو د خبریدو اؤ پوهیدو لپاره خپروي، تعلیمي اؤتفریحي دنده هم اجرأ کوي.

**سفرنامه(Itinerary diary)**: سفرنامه کښې لیکوال د مختلفو ځایونو، تیرېږي چې څۀ ویني اؤ یا اؤري هغه لیکي.

**راپورتاژ**: له لاتیني کلیمې څخه اخېستل شوې د ریپورټ رسولو معنا ورکوي. کۀ راپورتاژ په منل شوؤ اساساتو اؤ رنسپونو ؤلیکلے شي. لیدونکے به قدم په قدم د پېښې عملي صحنې ته له ځان سره یؤسي اؤ هغه به د پېښې د عیني شاهد په څېر شي. ښۀ راپورتاژ د هغه د راپور تر د لیکنې، شننې اؤ هنرمندی پیاوړتیا ښائي یا په بل عبارت په راپورتاژ کښې د لیکوال سترګې د خلکو په زړونو کښې څۀ چې ویني، هغه تحریر وي، راپورتاژ په یو مخصوص وخت کښې د چاپیریال معنوي، جذباتي اؤ واقعي عکاسي کوي.

**خبر(News)**: خبر عربي کلمه ده، چې د اطلاع اؤ پوهېدو په معنا راځي. په عام ګړدود کښې عبارت له هغې اطلاع څخه دے، چې انسانان ئې د خپل ځان اؤ نورو په حقله لاس ته راؤړي.

**مرکه (Interview)**: د مصاحبې، مفاعله عربي کلمه ده، چې زمونږ په ژبو کښې وئېل، اؤریدل معنا ورکوي. د انګلیسي انټرویو سره برابره د

وئېلو، اؤرېدلو اؤ مذاکرې لپاره لیدلو ته وئېل کېږي.

**تبصره:** تبصره د ژورنالیستیکي مطلبونو یوه ځانګړې برخه ده، چې په ورځنیو پېښو شوؤ وقایعو، له پېښېدلو څخه وروسته د شننې په شکل په ډېرې تېزۍ لیکلے کېږي.

**ژانر:** دا فرانسوي کلیمه ده، په نسبي توګه ژانر د فکر د بېلابېلو شکلونو وړاندې کولو اؤ په ادبیاتو اؤ ژورنالیزم کښې د حقائقو څرګندولو ته وائي.

**ژباړه:** هغه فن دے، چې د یوې ژبې اؤ ادب د لوړ والي سبب ګرځي. د ترجمان په زړهٔ او مغزو باید دا قسم جذبات اؤ احساسات خوارهٔ وي، لکه کوم چې د نوموړي اثر د تخلیق په سبب هغه وخت شوي وو. ترجمه باید روانه اؤ عام فهمه وي. تحت لفظي اؤ بې تسلسله نهٔ وي اؤ د اثر هنري ارزښت، اسالت اؤ ښکلا ؤساتي.

**څېړنه:** تحقیق، څېړنه یا رېسرچ چې د بحث یا لټون معنا ورکوي. د محقق وظیفه د حقائقو له سره نوے تخلیق یا تکمیل نهٔ دے، بلکې په معلومو حقائقو کښې د هغهٔ د وسې سره برابر اضافه کول دي.

**تنقید:** تنقید د هغه عمل یا ذهني حرکت نوم دے د یؤ څهٔ په برکت چې د یؤ څیز یا ادب پارې، د خصوصیاتو امتیاز ؤشي. تنقید په اصل کښې د لټون اؤ زیار یوه شعبه ده، تقریباً د دې شعبو په شان چې تحریک ئې د انسان فطري ذوق، جستجو اؤ د عجیبه اؤ نوؤ شیانو موندل دي.

**تقریظ:** د شننې د ژانرونو له جملې څخه دے چې دیوه تحلیلګر له طرفه یؤ چاپې اثر تر ارزونې اؤ شننې لاندې نیولے کېږي. غیر له دې چې د یؤ اثر فني اؤ شکلي ارزونه کېږي. دټولنې اؤ ټولنېزو ښېګڼو له پلوه هم ارزولے کېږي.

**مأخذ (Basis):** مأخذونه هغو ذرایعو اؤ منابعو ته وائي، چې له هغو څخه د یوې تر څېړنې لاندې موضوع د بشپړتیا لپاره مواد اخیستل کېږي اخځونه دوه ډوله وي.

1. بنسټیز 2.ثانوي.

## هغه د مشرانو خبره، چې...

٭ یؤ په خدا ے اؤ بل خبرو کښې د هر چا حق وي
٭ ورومبے خدا ے زورَور دے، بیا پردے پور
٭ نوې ناوې ته هر څوک بېوځي وهي
٭ نرې لیدونکي ډېر دروغ وائي
٭ مېړهٔ مړ کړه، خو مېړانه ئې مهٔ وژنه
٭ د خوار نه د خېرات په ورځ غوا ورکه وي
٭ پوره ورک دې کړل دوه کوره
٭ ټُوره دې لنډه ده، قدم ور واخله
٭ ؤګټېه دهقان غوندې، ؤخوره ئې د خان غوندې
٭ بلا چې عامه شي، اسانه شي
٭ په خُرهٔ کښې څهٔ ګټې کهٔ هسې چاے ګوتې؟
٭ پیشو ته پشې مهٔ وایه، نرغوټ مرورېږي
٭ ډم کړه خوره، خو زباد ونکي کړه نهٔ
٭ د نورو نیمې نیمې، د ابې خوارې دوه نیمې
٭ د سُوک څېپړې کالو سر کوزه وي
٭ غریبي هر ځاے ډېره ده اؤ خاني زهٔ نهٔ غوارم
٭ غوږ ئې ګتهٔ، ښکر ئې ؤباتېلهٔ
٭ ښځه چې ښځه وي، تُروې شوملې خُوږې کړي
٭ سترګه ړنده ښه ده، خو لاره ړنده ښه نهٔ ده
٭ ژمے نهٔ په خدا ے دے نهٔ په رسول، خو یوه بُرستن غواړي

زه پښتون يم زه افغان يم،نه په بل يم نه په ځان يم
څه جاهل يمه نادان يم، نه په بل يم نه په ځان يم
د مغرب ظالم قوته؛ په مشرق دې پېزواني کړم
زه دې بې شکروحېوان يم،نه په بل يم نه په ځان يم
هلته ښوېندې کونډۍمه، دلته مياندې بورۍمه
خودکشي ته پهلوان يم، نه په بل يم نه په ځان يم
دا د چا په تربيت کېږي، له خپل ځانه بې خبره
د بارودو ډک انسان يم، نه په بل يم نه په ځان يم
د خپل پلارنيکه په زمکه،د قارون غوندې غرقېږم
مال په سر شکته روان يم، نه په بل يم نه په ځان يم
د طاقت توره ټوپۍ کېږي،لاس د ځان نه پرې کوۍمه
زه خپل رور ته چنګېزخان يم، نه په بل يم نه په ځان يم
په ګونګۍ پښتنه خاوره، د ځاروي غوندې قتلېږم
پروت بې سره تنه ځوان يم، نه په بل يم نه په ځان يم

څه په ګېډو وډو سر يم، د پښتون وطن په غم کېږي
د **سوختي** د ځلې بيان يم، نه په بل يم نه په ځان يم

قيس محمد سوختي

ناځاپه مې را ږوربدې زړه باندې ماښام
ډوډۍ مې پخوله تناره باندې ماښام
په زړه کېږي مې وه جوړه باچائي ستا د الفت
ولاړه ږمه خدای ته په نمانځه باندې ماښام
راځه ترې نه ولجه کړو باچائي د رڼا ورځ
راځه چې کانې ږکړو بېلتانه باندې ماښام
خوارېږه به مې له ستورو پټ په موتي کېږي ورکېښود
سپوږمۍ به مې رالاندې کړه په غره باندې ماښام
ثواب مې د دعا اؤ د اذان له خدايه ږغوښت
روژه مې ماتوله ستا په خله باندې ماښام
رمه د ژوندانه لېوان د کرکې ترې نه خوري
راغلے دے په دشته کېږي شپانه باندې ماښام

دعوه مې د هر څه ځکه کوله **پکتيانې**؛
ليکلے به ستا نوم ؤ په هر څه باندې ماښام
حميده پکتيانۍ

مينه کېږي کم نه ږم، خو بيا هم څه کمے پاتې شه
ما سره خپل زما ملګرے، خوار تندے پاتې شه
قسم مې کړے ؤ، چې بيا به زړه ؤ نه لګوم
لاړو قسم مات شو اؤ بيا را نه زړګے پاتې شه
د محبت په ټکي نبغ هم شو اؤ غلے هم شو
ښکاره په سترګو کېږي لمبه،زړه کېږي موسکے پاتې شه
چې د منزل د لورې لار نه وه، مونږ واړه يؤ وو
چې لاره ږشوه، نو زمونږ خپل خپل سمے پاتې شه
هم ئې په دار کړو، هم ګوزار ئې کړو د خپل نظر نه
بيا هم لا وائي، چې "**قيصر** ترې نه ژوندے پاتې شه"
قيصر خان مانبروال

څومره چې اهونه دي، اثر به شي
خپله مې په حال باندې خبر به شي
را به وړي ديدن، هجر به ختم شي
لنډ غوندې حساب دے، برابر به شي
غرکه هر څو لوړ دے، په سر لار لري
پښې به مې پولۍ کا، اخر سر به شي
اوښکه په لمن د اوبو څاڅکے شي
سترګو کېږي ئې ږساته، ګوهر به شي
ږوايه د زړه حال په يؤ شعر کېږي
لويه ده خبره، مختصر به شي

ليکه تل **طيبه**؛ په قلم رڼا
دوه ورځې ژوندون دے، معتبر به شي
طيب خان




## پښتنې مېرمنې

سائره اتمانخېل (پېښور)

په ټوله نړۍ کښې د مېرمنو شمېر اؤ د هغوي د ژوند په اړه کۀ نظر ؤکړو اؤ بيا دا ؤمنو، چې د نړۍ د ټولې ابادۍ 55% برخه هم مېرمنې دي، نو بيا ډېر سوالونه راپورته کېږي اؤ مونږ ته د نړۍ د ابادۍ په تناسب د وسائېلو لاس ته راؤړل اؤ د وسائېلو/اساسو د لګښت (consumption) په اړه اندېښنې رېښتونې کېږي. کۀ مونږ معروضي حالاتو ته ؤګورو اؤ د وګړيشمېر (مردم شمارۍ) په پايله کښې راتلونکو هندسو ته ؤګورو، نو بيا د اولس د بدې ورځ ګېله بې ځايه غوندې ښکاره شي. د نړۍ د ګڼو برخو غوندې په پښتنه سيمه کښې هم د مېرمنو برخه د سړو سره په معاشي مرستو کښې د نيشت برابر ده. هغه کليوالې مېرمنې چې په کښتونو کښې د خپلو مېړونو سره اوږه په اوږه بوختې وي، هغوي هم د ټولنې په معاشي روزنه اؤ خپل رول لوبوي اؤ د خپلې برخې وړۀ اؤ وريږې پخپلو لاسونو ګټي اؤ دغسې د کورنيو لګښتونو په لړ کښې مرستندويه دي، خو چې لږ ډېر پرمختللي کليوال ژوند ته راشو، نو دغلته د مېرمنو ټول صلاحيتونه زنګ نيولي ښکاري اؤ هغوي په څلورو دېوالونو کښې د الله لخوا ورکړې شوؤ ځانګړتياؤ اؤ صلاحيتونو سره وُرستې شي. د داسې حالاتو منځ ته راؤړلو د ټولو نه لويه ستونزه خو د لوڼو ښوونځو ته نۀ استول دي، کوم چې وروستو ژوند کښې په ټولنيز پرمختګ يؤ ناوړه اثر ؤلري اؤ دوېمه دا چې، د پښتنو په ټولنه کښې تر اوسه پورې د "کورني صنعتکارۍ" پله زيات خيال کړے شوے نۀ دے

اؤ دغسي په کارېږۀ د پرتوغاښونو ښلو، په فرېم کښې په رومیالونو/دسمالونو د ګلونو کولو اؤ ټوپیو جوړولو نه اؤ زیات نه زیات په کور دننه د خوښندو يؤ بل له د اغوستن ګنډلو نه پرته بله څۀ لاره نۀ وينو.



داسې حالاتو کښې چې مونږ سره "د لاس ګل" اؤ "د خوښندو کور" اؤ نورې نړیوالې کومک کوونکې ادارې شته، باید مونږ د مېرمنو د پرمختګ په لاره کښې خنډ نۀ شو اؤ زیات نه زیات کار دغه لړ کښې د دې ادارو څخه واخلو اؤ خپلو کورونو کښې د ابادۍ دغه 55% برخه د وختونو د دوړو لاندې خاؤرې کېدلو ته ؤ نۀ سپارو. دا زمونږه مذهبي اؤ قامي ښونه هم ده اؤ د وخت يوه منطقي غوښتنه هم ده. اوس وخت راغلے دے، چې پښتانۀ د وخت سره د تللو ډول اؤ چل زده کړي. د ښځو په تربیه اؤ زده کړه خصوصي توجو ورکړي اؤ څومره چې د ځوي ښوونځي ته د بوتللو تکل کوي، هم دغومره د لور د پاره هم زيار ؤکړي، ځکه چې يوه لوستلې مور د يوې لوستلې اؤ مهذبې ټولنې ورومبۍ تيګه وي.

## د ښځو په حال

**زرین زاده ایسپزے**

بې له کوره اؤ ګوره بې بل څۀ لیدلي نۀ وي زمونږ د کلي جونو داسې پېغلتوب کړے دے کلے چې کلے ؤ، د ښار لوګو لاوهلے نۀ ؤ اؤ اولس ئې د بازار طبقاتي درجه بندو کښې نه ؤ اخښلے شوے، نو ښځې هومره ازادې وې، څومره چې سړې وو. د کورونو دیوالونه مندري وو، د کوڅو تمبې به نه وې، غلا غلتۍ نه وې، نه وېره وه، نه د عدم تحفظ احساس. ښځې به ساګونو پسې پټو ته تلې، خپلو ارټونو ته به تلې، پيو شاربلو له به اباسین ته تلې. زمونږ په کلي کښې اوس هم اباسین ته وتلې يوه لار په دې نوم ده "د پيو شاربلو لار" چې ښځې به پرې سحر پيو شاربلو ته تلې.

زړو به خپلې خبرې د پښتویه ټپې، محاورې متلونوخوږې ساتلې اؤ د ژوند کیسې اؤ تجربې به يې نوؤ نجونو ته سپارلې، خو اوس چې څنګه د ژوند پیمانې بدلې شوې، داسې د کلیوال ژوند رنګونه هم پیکه شول، نه چا له ټپه ورځي، نۀ متلونه اؤ نۀ يوې ښځې ته د پښتو اولسي کیسې ماښام یاده وي.

په کال کښې به د ښځو دوه میلې وې. د وړوکے اختر اؤ د لوي اختر میله...

دې میلو ته به د کلي ټولې ښځې، نجونې اؤ ماشومان تلۀ. په ټالونو به ئې ځانګل، خوندونه خوشالۍ به يې کولې.

اوس خو کلي ښارونه شول. نړۍ په مخه لاړه، خو زمونږ د کلي د کورونو دیوالونه نور هم دنګ شول. ساګو پسې تلۀ پېغور شو اؤ د ښځو میلې د دين اؤ پښتونولۍ په نامه وتړلې شوې.

د اسماعیل ګوهر صیب يوه هايکو ده چې:

چا راته ؤوې "د سپرلي ورځو کښې
هغه تر لرې ګرځی ساګو پسې"
ځکه پټی کې مې شړ شم وکړل

خو اوس سپرلي راشي اؤ تېر شي، زمونږ د کلي پېغلو بې له کوره بل موسم لیدلے نه وي.

# لوړه خوېندې

اداره

د پښتو يو متل دے، چې "خپله خور لور هر چا ته قرمېځنه وي"، خو مونږ وايو، اوس دې دغه شهلې اؤ ناپوهه بګټی له منځه ؤويستلې شي. اوس د پښتنې ټولنې د پاره د يوې نوې تګلارې اؤ يو نوي فکري بنسټ ايښودلو وخت دے. کۀ مونږ دغه متل کښې د "هر چا ته" لفظونه د "ځنو ځنو ته" هم کړو، نو دا به لوي بريالېتوب وي اؤ د يو ګټور بدلون پېلام وي.

داسې حالاتو کښې کۀ مونږه ريښتيا نه سترګې پټې نۀ کړو، نو دا ټپه څومره ريښتونې ښکاره شي، چې:

د پښتنو خوېندو څۀ برخه؟

چې کال کښې راشي، غونځاښې ځان سره وړينه لور خور د کورنۍ غېرت اؤ ننګ وي. مونږ دغه نوم سره د ويار په ځاے پېغور اؤ د باور په ځاے انديښنې تړلې دي. کۀ مونږ ځېر شو، نو د کور ټوله ښکلا د لور سره تړلې ده. مونږ نۀ د لور خور د ښوونځو ته لېږلو تابيا کوو اؤ نۀ ئې په پلرګنۍ پنګه کښې د برخې منلو ته غاړه ږدو.



دغسې د لور خور د پاره د مذهب اؤ پښتو ورکړې شوې لارې مو د خپلو مالي اؤ مادي سودونو د پاره د وېرې شا ته پټ کړې دي. مونږ ځرګند وينو چې کومه مور تعليم يافته وي، د هغې بچې هم د تهذيب په ښکلا ښکلي وي اؤ ټولنه کښې ورته په



دُرنه سترګه کتلے کېږي. اوس د داسې رويو اؤ خويونو د متعارف کولو اړتيا ده، چې پښتانۀ د زده کړې اؤ د مېرمنو د صلاحيتونو نه د خپل ژوند د سمون اؤ سوکالۍ د پاره کار واخلي.

ويار په دغه لړ کښې د خوېندو د پاره برخه ويستلې ده اؤ هيله لري، چې راتلونکي کښې به مونږ ته په دغه لړ کښې ستاسو ارزښتمنې ليکنې زمونږ په برېښنائي ليک تر لاسه کېږي.

مونږ دا مرام لرو، چې وړومبے خو د ويار په پاڼو د داسې عقلي اؤ منطقي لارو لټون ؤکړو، کوم چې عملي کېدلے شي اؤ بيا د وخت سره سم د دغه لارو عملي کولو د پاره د سرکاري اؤ غېرسرکاري جوړښتونو اؤ ادارو څخه په دغه لړ کښې مُرستې اؤ کومک تر لاسه کړے شو اؤ د مرام په لور عملي ګامونه پورته کړو. دا وخت چې مونږ وينو، نو تر ډېره حده پورې په پښتنه ټولنه کښې بدلون راغلے دے، خو دا بدلون چې په ګټه تمام شي اؤ خداے مۀ کړه، لکه د نورو ډېرو خوځښتونو اؤ پاڅونونو دا هڅه هم شنډه اؤ د غړ د حد پورې پاتې نۀ شي.

دعا کوو، چې الله دې زمونږ د قام پرمختګ د پاره مونږ له د کار کولو توان راکړي.



ISSN201210




## ټولنيزې رسنۍ.....
## اوس نړۍ کلې شو

**ميا سجاد علي**

د انټرنېټ تر لارې د بېلابېلو پروګرامونو په وسيله د وګړو، ګروپونو اؤ ادارو منځ کښې د پېغام رسانۍ نوم "ټولنيزې رسنۍ" **Social Media** دے۔ د **2012** پورې د ټوېټر **(Twitter)** اؤ فېسبوک **(Facebook)** تر لارې ټولنيزې رسنۍ د خبرو، معلوماتو، تصويرونو اؤ ليکونو يؤ تر بله رسولو د پاره د ټولو نه لويه وسيله ګرځېدلې ده اؤ دغسې اوس د نړۍ په يؤ ګوټ کښې په يوه کوټه کښې ناست وګړے د نړۍ په بل ګوټ کښې د ناست وګړي سره ابغ په نېغه په ليکه وي۔ دا ټولنيزې رسنۍ د شخصي څيزونو د يؤ بل ته استولو اؤ يؤ بل نه د اخستلو سره سره د تجارت، تعليم، صنعت اؤ نورو ګڼو مقاصدو د پاره هم پکارولے کېږي۔ د يوې خپرؤنې د شمېر تر مخه، کوم وګړي چې د ټولنيزې رسنيو په درشل ننوتلي دي، نو هغوي د ورځې شپږو نه اووۀ ګېنټو پورې وخت دغلته تېروي۔

پوهان وائي، چې ټولنيزو رسنيو اؤ په ځانګړې توګه فېسبوک اؤ ټوېټر وګړي ته د خپلې خبرې کولو دومره ازادي ورکړې ده، چې اوس ډېر بشري اقدار د دړکې سره مخ شوي دي۔ د چا چې څۀ په زړۀ کښې راغلل اؤ څنګه هم راغلل، نو هغه په پراخه مټ خپروي اؤ دغسې تاريخ د غلط فهمو اؤ غلطيو د يؤ لوي بؤ خڵې ته ؤسپارلے شو۔

د تعلیم د راتګ سره پښتانهٔ هم د ټولنیزو رسنیو سره بلد شول اؤ اوس ښهٔ ډېر وخت ورکوي. دې لړ کښې د اندېښنې خبره دا ده، چې ایا پښتانهٔ د ټولنیزو رسنو نه څهٔ تعلیمي، تجارتي، صنعي یا بله څهٔ ګټه تر لاسه کوي، کهٔ یوازې د انځورونو اؤ خبرو یؤ بل سره د تبادلې د پاره ئې پکاروي. دغه لړ کښې د ملګري طیب خان د یوې سروے تر مخه، زیات پښتانهٔ ټولنیزې رسنۍ د ذهني عیاشۍ اؤ وخت تېرې د پاره پکاروي اؤ څهٔ ډول ټولنیزه اؤ قامي ګټه ترې نهٔ پورته کوي. د هغهٔ تر مخه پښتنو په سیمئیزو نومونو پاڼې پرانستلې دي، چې هلته د یؤ بل د پاره د انځورونو لېږلو اؤ شاعرۍ کولو اؤ ټوقو نه پرته بل کار نهٔ کېږي.

مونږ وایو، چې دا منفي رویه هم ګټوره کېدلې شي، کهٔ چرې دا سیمئیزې پاڼې د سیمې د اولس د پېژندګلو، د هغه سیمې د زمکني خاصیتونو، کروندې، تجارت، معدنیات اؤ نورو قدرتي شتمنو اؤ اولسي هلوځلو منځ ته راؤړلو کښې رول ؤلوبوي، نو دا به د نورو سیمو د اوسېدونکو د پاره د پېژندګلو کار هم ؤکړي اؤ د وخت د تېرېدلو سره به دا سیمې د یؤ بل سره زیاتې نزدې ؤپېژندلې شي اؤ د سیمې د اولس، زمکې اؤ تجارت سره د معارفي کېدلو نه وروستو به په راتلونکي کښې د ډېرو اوچتو قامي اؤ اولسي ګټو د پاره لاره هواره کړے شي.

اوس سوال دا پېدا کېږي، چې د ټولو سیمو منځ کښې د رابطې د پاره څهٔ لاره خپله کړے شي اؤ د اولسي پاڼو د یؤ بل سره اړیکې څنګه ټېنګې کړې شي ؟ دا به په شعوري توګه هڅه کول غواړي. دغسې په ټولنیزو رسنیو کښې د پښتنو منځ کښې د ارتباط بشپړه لاره ښکاره برېښي.

## کتابتون ټولنه

www.kitabtoon.com

دکتابتون ټولني په برېښنايي کتابتون کښې هر هغه لاس ته راغلي کتابونه اؤ لیکني په لیکه شوي اؤ په لیکه کېږي، چې په بېلا بېلو سکالوو، لکه پښتو ژبه اؤ ادب، په بله وینا، ژبپوهنه اؤ ادبپوهنه، فلسفه، تاریخ، ټولنپوهنه، دینپوهنه، اؤ داسې نورو اړه لري. په دې سربېره په کتابتون کښې د نوموړو پښتنو ژوندلیکونه، انځورونه اؤ چاپي اثار هم موندلے شئ.

## پښتو ډاټ نېټ

www.pukhto.net

"پښتو ډاټ نېټ" هم یؤ برېښنائي پښتو کتابتون دے چې په PDF بڼه کښې ئې په بېلابېلو سرلیکونو ګڼ شمېر کتابونه خوندي کړي دي.

پښتانهٔ لوستونکي کولے شي، چې دلته د مذهب، ټولنیزو پوهنو، ادب، کلتور، سیاست اؤ نورو ګڼو سرلیکونو باندې کتابونه ؤلولي.

(د ویاړ اداره به وخت په وخت داسې برېښنائي پاڼې تاسو ته د ښودلو هڅه کوي).


ISSN201210

# اوبهٔ... د قدرت لویه ورکړه

**ارشاد الله وردګوال**

اوبهٔ د ژوند علامت دے.....
اوبهٔ د ژوند ضمانت دے.....
اوبهٔ د ژوند ضرورت دے.....

د پښتنو په سیمه د الله دا لویه پېرزوئنه ده، چې دلته د غرونو د هسکو سرونو نه رواني شوې چینې، د غرونو په سینو کښې بهېدونکي خوړونه اؤ د غرونو په لمنو کښې غورځنګ شوي سیندونه د هوارو زمکو د پاره د سیندونو اؤ نهرونو په ترڅ کښې د اوبهٔ خُور سبب ګرځي. د مېداني سیمو په خربو اؤ ښېرازه زمکو د لوړې نه د ژغورنې د پاره بسیاره داني تو کیږي اؤ د کروندې تر لارې د اولس اؤ هېواد د شتمنۍ اؤ سوکالۍ حواله شي.



لکه څنګه چې د نړۍ حالات اؤ د موسمونو د بدلونونو رفتار اؤ بیا د ماحولیاتي بدلونونو په انساني ژوند اثراتو ته ګورو، نو دا مفروضې رو رو ریښتیا کیږي، چې د نړۍ درېمه لویه نخښته به د اوبو د پاره وي. اوس د پاکستان اؤ د هند تر منځه د اوبو د وېش پرېکړې اؤ په یو بل د تنقیدونو اؤ الزامونو په تالان کښې د سیمې د اولس تاوان هر چا ته ښکاره دے. د پښتنې سیمې اوبهٔ خُوندي کول د صوبائي اؤ وفاقي چارواکو وړومبۍ ذمه واري ده اؤ په دې لړ کښې د څهٔ ډول ناراستي یا تن اساني به د سیمې د اولس ژوند دړکې ته د ښېلمه کولو برابر وي.

دې لړ کښې د اولس پام هم د اوبو د زیان پله اړول د وخت غوښتنه ده. د اوبو خُوندي کول زمونږ د افاقي مذهب په وړومبیو ښونو کښې ده. لکه څنګه چې رحمت اللعالمینﷺ فرمائیلي دي،

"اوبهٔ بې ځایه (اؤ اړتیا نه ډېرې) مهٔ تویوئ، کهٔ تاسو د رواني ولې په غاړه هم یئ".

د نازولي پېغمبر دغه وېنا د یؤ مسلمان په حېث زمونږ نه دا غوښتنه کوي، چې مونږ د اوبو زیان ته لاره کښې ؤدرېږو اؤ دا لویه پېرزو د خپل راتلونکي کهول اؤ ټولې نړۍ د پاره خُوندي کړو. دې لړ کښې د ځلمي کهول ذمه وارۍ زیاتې دي. کهٔ ؤوینې چې په کور کښې، حجره کښې، جومات کښې، لاره کښې یا بل داسې اولسي ځاے کښې د اوبو زیان کیږي، نو چې د هغې مخه ؤنیسي. اوس خو زیاتره ټوټی/بمبې/نلکې د اوبو د پاره پکارولې کیږي. باید د دغه نلکو د لګولو په وخت د دې خبره ډېر پام ؤساتلے شي، چې اوبهٔ بې ځایه اؤ بې اړتیا دغې څخه ؤ نهٔ څڅیږي. بیا کهٔ ؤوینې، چې دغه څڅوبے شته، نو چې د سمولو د پاره ئې کوشش ؤکړي. په دغه لړ کښې د یوې نلکې د اخستلو لګښت کهٔ ورته غر کیږي، نو چې د اوبو د ارزښت نه خبر وي، نو دغه غر به ورته خس شي.

د پوهنتونونو څخه کهٔ ځلمي د اوبو د خُوندي کولو د پاره میاشتنۍ یا درې میاشتنۍ خوځښت پېل کړي اؤ د سیمې د ښوونځو وارهٔ هم د مدرسینو سره یؤ ځاے خپل بدرګه کړي، نو زما په خیال دا به په نوي کهول کښې د اوبو د خُوندي کولو د پاره یؤ ډېر ګټور ګام اؤ یؤ ډېر اغېزمن پېل وي.

Wyaarh.ashnaghar@gmail.com



# پښتانهٔ اؤ د نوي وخت تقاضې

شاه مرغز

پښتانهٔ په جغرافیائي توګه د ایشیا په هغه برخه کښې پراتهٔ دي، کومه برخه چې د منځنی ایشیا اؤ د ایران په لاره اروپا ته زمکنی لاره ده. د نړی د دې برخې په ټوله نړی ځرګندې اغېزې دي اؤ د دې سیمې حالات په ټوله نړی براه راست اثرانداز کېږي.

د تاریخ په اوږدو اؤ لنډو کښې چې مونږ ؤګورو، نو وینو، چې پښتانهٔ د تاریخ په هر پړاؤ د بهرنیو یرغلګرو یا په خپلو کښې د نخښتو ښکار پاتې شوي دي ، چې د دغه نخښتو له کبله پښتانهٔ د پرمختګ په لارو کښې د نړی د نورو قامونو نه ډېر وروستو پاتې شول.

اوس د نوې صدی راختلي نمر ځان سره د پښتنو د پاره هماغه پېغام راوړے دے، کوم چې د تېرو صدیو نمرونو راوړے ؤ، خو بدقسمتي وه، چې د دې صدی په راتللو کله نورې نړی د رناګانو، سندرو اؤ رنګونو په نوستلو هرکلے کولو، هغه وخت د پښتنو په سیمه د بارودو لوګي، د بمي چاؤدنو غړونه اؤ د پښتنو د وینو رنګونه خوارهٔ وارهٔ پراتهٔ وو . د پښتونخوا خاؤرې نړیوالو ته چغې وهلې:

زهٔ دې په خاؤرو کښې سمبال کړم
تهٔ مې په ځلي غږ کوه چې یار دې ؤمه

اؤ اوس کهٔ هر څو دغه تیارې لا شته، خو د پښتنو د ژوند خوندي کولو د پاره غواړو، چې د نوي وخت غوښتنې مخې ته کېږدو.

مونږ دا خبره کوو، چې کهٔ پښتانهٔ په دې خبره پوهه کړے شي، چې هغوي د یؤ قامي جنګ سره مخ دي اؤ قامي جنګونه قام ګټي،نو دا خبره به ډېره ګټوره وي.



د بقا د جنګ ګټلو د پاره به د پښتنو وړومبی وسله تعلیم وي . هر څو کهٔ اوس پورې دغه لړ کښې پښتنو په ځان غوړونه راچولي وو، خو اوس پوهه شوي دي اؤ دغسې په صوبه کښې د نوؤ پوهنتونونو پرانستې د وخت دې غوښتنې ته د اولس پام په ډېر مؤثر انداز کښې راړولے دے.

د نوي وخت تقاضو کښې یوه د سیاسي تګلارې ټاکنه هم ده . زهٔ په شخصي توګه د هر سیاسي ګوندونو د رنګونو د لوبې قائل نهٔ یم . زهٔ وایم، چې څوک هم د پښتنو د ژوند ، د پښتنو د حق اؤ د پښتنو د سیمې د پرمختګ د پاره عملي کار کوي، هغه د پښتنو نمائندګان دي . ما د سیاسي لارې د ټاکنې خبره په دې ؤکړه، چې د پښتونخوا په بورجلونو د ګڼ شمېره سیاسي ګوندونه ببرغونه پرېږي، نو ببا ولې د اولس د ښېګړې د پاره صرف اؤ صرف د هغوي د ووټ ترلاسه کولو خبره وي اؤ د برخې د وېش په وخت کښې سودم ته شین وي؟ باید اوس پښتانهٔ د حالاتو از سرِ نو جائزه واخلي اؤ د تاریخ په اوږدو اؤ لنډو کښې د دوي په صوبه د راغلو واکمنو ګوندونو کارکردګي په تنقیدي نظر ؤګوري اؤ ببا دا



ISSN201210

پرېکړه وکړي، چې چا تشې نعرې وهلې دي او چا عملي کارونه کړي دي  او بیا دې هم د هغه ګوند مُلاتړ وکړي، تر څو د پرمختګ لاره خپله کړي.

د نوي وخت په غوښتنو کښې یوه خبره د اقتصادي ښېګړې هم ده. پښتانهٔ د خپلې خاورې ګڼ شمېره قدرتي معدنیاتو، بشري قوتونو، برېښنائي پېداوار او د انفراسټرکچر د شتون باوجود هم د ژوند په ستونزو کښې لالهانده دي. د پښتنو سیمه د کرکیلې او صنعتونو د پاره او د دغه دوه پراخه لارو په پرمختګ سره د تجارت د پاره یؤ ډېر روڼ سباوون لري. داسې دا صوبه د ځان، د پاکستان او د ګاونډي هېوادونو د پاره یؤ آئکن ګرځېدلے شي.



دا ټول امکانات په نظر کښې ساتلو سره سم، زمونږ وړاندې زمونږ د ژوند د ټولو نه لوي ویاړ او د ټولو نه لوي ډاډ زمونږ پښتون کلتور او ژواک دے. زمونږ تاریخ کښې د ژوند داسې تګلارې خوندي دي، کومې چې وختونو زمونږ نه ترُوړلې دي، خو د دغه تګلارو بیا ژوندي کول به د پښتنو ټولنیز ژوند د پاره یؤ ویاړمن ګام وګرځي.

دې سره د ترهګرۍ په ضد نړیوال جنګ کښې ټولو نه زیات زیان د پښتنو په برخه شوے دے. پښتنو سره په دغه جنګ کښې د کبوتلو نه پرته بله لاره کهٔ وه هم، نو حالاتو ئې مخه نیولې وه. پښتانهٔ دغه نړیوال جنګ سره په دې ټپې ورغلل:

ما د جانان لمن نیولې
کهٔ په ازغو کهٔ په لمبو مې خېژوینه

اوس چې پښتنو دومره تاوان په دغه جنګ کښې وکړو او د پېریانو سره نخښته کښې ئې سرونه هم وبائېلل، جوماتونه/حجرې/کورونه او ښوونځي هم، نو اوس ورته د تلافۍ غوښتنه په ټول زور سره پکار ده، چې نړیواله ورورولي د پښتنو د ژوند څریکو له دلاسه راوړي او هسې نهٔ چې پښتانهٔ د پښتنې په خاوره د جنګ کوونکو خپلو خپلو هېوادونو ته په بېرته ستنېدلو بیا یؤ بل ته په پېغور کښې وائي:

په جوارۍ ناسته لالیه!
په داؤ دې نهٔ یم ستا په وچو شونډو یمه

مونږ هم دا خبره کوو، چې اول "قام" دے او بیا "وطن". چې وژلے کېږو، نو بیا به د هېواد معنا (خدائے مهٔ کړه) ادیره وي. اوس ژوند دا خو نهٔ دے، چې د مرګ په سېورې او د حسرتونو په ځنګل دې تېر کړے شي. پښتانهٔ د مَرې خاورې وړې استوګن دي او د پاکستان او افغانستان د ولایتونو په سېورې کښې د محرومیو او د مرګ ژوبلې په سُور نمر ژوند کوي. وخت مونږ نه دا غوښتنه کوي، چې دې وخت کښې یؤ بل له لاس ورکړو او د خپل راتلونکي خوندي کولو او خپل راتلونکي کهول ته مخ په لاړو کولو د پاره هم نن نه تابیا وکړو او ځان له یوه کوټلې او منطقي لاره خپله کړو. کهٔ نن مونږ دا موقع او دا وخت له لاسه ورکړل، نو تاریخ به مونږ ته چرې بخښنه و نهٔ کړے او نهٔ به مونږ د ځان سپېنولو د پاره خپل راتلونکي کهول ته دروغژن تاریخ وؤئېلے شو.

# خوشحال بابا اؤ رحمان بابا بختور دي

**حېدر ګل اباخېل**

هسې ناست ؤم اؤ د يؤ شاعر ملګري کتاب مې لوستلو، نو هغۀ پکښې ډېر ګران ګران، لوړ لوړ اؤ ستغ ستغ لفظونه ليکلي وو. په ځنو خو پکښې خدائے شته، لا اوس هم زما سر خلاص نۀ دے، خو ما پرې هم مازغۀ ؤ نۀ خوړل اؤ خوئينده پرې تېر شوم، خو بيا مې دننه ليکلو ته پام شو، نو هغۀ پخپلو خبرو کښې ليکلي وو، چې:
"زۀ د پښتو ژبې د سُوچه کولو هڅه کؤم اؤ کۀ نن پښتو هر څو د فارسۍ اؤ اردو په ولقه کښې ده، نن نه سل کلونه وروستو به بيخي سوچه وي".



دې خبرې سره لږ فکر واخستم. د سږې مانۍ په دېوال را ته لکه د سنيما پرده راکښلې شوه اؤ ما پرې د پښتنو نزدې تاريخ ؤکتلو. د تېرو څو پېړيو فلم په څو شېبو کښې سر ته ؤرسېدلو. د مغلو، پېرنګيانو نه راغلم اؤ د اوسنۍ ورځې پورې مې سترګو له رپ ور نۀ کړو. ريښتيا خو دا دي، چې سترګو نه په دې څو شېبو کښې هسې هم رپ وهل هېر شوي وو. زۀ لا د حېرانتيا د دغه ژورو نه راوتلے نۀ ؤم، چې نېزه په لاس خوشال بابا را ته په دېوال ښکاره اؤ ګويا شو:

اتفاق په پښتنۀ کښې پېدا نۀ شو
ګنې ما به د مغل ګرېوان پاره کا

اؤ د پښتنو لوي وطن راته د سياسي ګوندونو په توغو اؤ بېرغونو لکه د ميرات شهيد ښکاره شو. ما لا د بېرغونو رنګونو شمېرل، چې ترېدلے اؤ ګاګير شوے رحمان بابا په دېوال ښکاره اؤ ګويا شو اؤ ګيله منه لهجه کښې ئې ؤوې:



په سبب د ظالمانو حاکمانو
کور اؤ ګور اؤ پېښور درې واړه يؤ دي

ما د دواړه باباګانو سترګو کښې ګيله ؤليدله اؤ د دواړو شعرونه مې واؤرېدل اؤ بيا مې ناڅاپه د نوي دور د دغه شاعر خبرې ته خيال شو، نو ځان ته مې ؤوې،
"دا نېکبخت به روانو سلو کلونو پورې ژبه سُوچه کوي اؤ بيا به پښتانۀ د فارسۍ اؤ د اردو غلامۍ نه ازاده شوې سُوچه پښتو وائي؟ (په بې پامۍ کښې مې د طنز موسکا په شونډو ښکاره اؤ سترګو کښې ځلنده شوله) نېکبخته! تا سل کلونه د ژبې سوچه کولو له ورکړل اؤ زۀ وايم، خوشال بابا اؤ رحمان بابا بختور دي، چې اوس هم پښتانۀ شته اؤ هغوي ورسره ژوندي دي.


ISSN201210




## د پښتونخوا ستاک ایکسچینج پېژندګلو

**اداره**

"پښتونخوا ستاک ایکسچینج" د پښتنو د روزګار، تجارت، صنعت اؤ حرفت د ودې اؤ پرمختګ د پاره د وړومبي فکري قدم نوم دے، چې د وخت په تېرېدلو سره به مونږ دې لړ کښې د پوهانو اؤ ځیرکو مشرانو څخه ګټور وړاندیزونه د دې د عملي کولو د پاره اخلو اؤ د اولس د کومک د پاره به غږ کوو.

پښتونخوا د خدائے په ورکړے شوؤ پېرزوئنو سره ښېرازه اؤ شتمنه خاؤره ده. د یؤ هېواد د پرمختګ د پاره په هغه هېواد کښې راغښتې شوې د قدرتي معدنیاتو پنګې، د اوبو شڼون، د برېښنا/ګېس اؤ نورو د توانایۍ په وسائیلو اؤ اولسي ټوان باندې شمېرلے کېږي. کۀ په دغه اړه مونږ د پښتونخوا د خاؤرې تول ؤکړو، نو دغه ټول توکي پکښې په بشپړه توګه شتون لري اؤ د اولس د پرمختګ اؤ د ښېګړې د پاره بې شمېره لارې اؤ وسائل لري.

بیا هم، دې ته به د وخت اؤ حالاتو جبر اؤ د پښتنو د پټو سترګو ورکړه ؤوایو، چې پښتنانۀ په داسې مړه اؤ ښېرازه خاؤره هم د لوږې اؤ تندو سره ښکېل دي اؤ د ژوند په ځغل کښې د نورو قامونو نه ډېر وروستو پاتې دي.

د "پښتونخوا ستاک ایکسچینج" به د پښتنو په سیمه اؤ د افغانستان اؤ بلوچستان د پښتنو سره سره د پاکستان د نورو صوبو اؤ ګاونډي هېوادونو منځ کښې د اړیکې مرکزي رول لوبوي.

په دې اړه به مونږ وخت په وخت د داسې امکاناتو عقلي اؤ منطقي څېړنه کوو، کوم چې به دغه لاره هوارولو کښې مرستیال کېږي.

زمونږ د دې خوب د تعبير په لاره کښې ورومبے خنډ د پښتونخوا امن دے ۔ پښتونخوا د يوې اوږدې مودې راسې د جنګ اؤ فساد منځ کښې لوغړيږي اؤ چقيږي، چې د سيمې اولس ئې د ګڼ شمېر ستونزو اؤ عذابونو سره مخ کړے دے اؤ بيا د نړيوالې وروروليۍ لخوا په دغه جنګ کښې د پښتنو په لاسونو کښې د دلاسې اؤ لاپې ګلونه ورکولے کيږي اؤ پښتانۀ ورته غږ کوي:
د سيند په منځ کښې دې ګل راکړو
لاس دې را نۀ کړو، د مهو خوراک دې کړمه
د پښتنو په خاؤره سياست کوونکي به هم مونږ دې لړ کښې اولس ته په دريز د وړاندې کولو هڅه کوو، تر څو د هغوي تګلاره اؤ مرام هم ؤپېژنو اؤ د بېلابېلو سياسي ګوندونو فکر اؤ هلې ځلې به هم په دې پاڼو ستاسو وړاندې ږدو، تر څو ؤپېژنو چې کوم ګوندونه د اولس د ښېګړې د پاره ويښ دي اؤ کوم ګوندونه خوبولې خبرې کوي۔
په دې لړ کښې مونږ د پښتونخوا د بېلابېلو سيمو د وګړو شمېر، سيمئيزه شمېره، په دغه سيمو کښې د قدرتي پنګو شتون اؤ د هغه ځايونو د انفراسټرکچر اؤ د توانايۍ راپورونه ډېر حده پورې يؤ ځاے کړي دي، چې راتلونکې ګڼې د پاره به دې پاڼو کښې ستاسو وړاندې کېښودلے شي۔ بيا هم، دا به يؤ قامي کار وي اؤ ښکاره خبره ده، چې قامي مرامونو د پاره قامي لښکرې پکار وي۔ مونږ د پښتنو د پاره اميد اؤ هيله راؤړو اؤ د هغوي نه د هغه حد پورې د نااميدۍ خبره نۀ کوو، کوم حد ته چې ډېر پښتانۀ تلي دي۔
مونږ دا ټينګ اؤ جوخت باور لرو، چې د پښتنو د پاره اوس هم د come back کولو وخت دے اؤ کۀ دوي په قامي توګه ويښ شي، نو د نړۍ نه به د خپلې برخې تپوس هم ؤکړے شي اؤ ډېرې ګټې به هم تر لاسه کړي۔
د امن نه وروستو دوېم لوي خنډ د توانايۍ وسيلې دي ۔ په موږږو اؤږېدونکي سيندونه، د بارانونو کليزې ښېې اؤ د موسمونو ښېرازه خويونه د پښتنو په خاؤره د قدرت لويه پېرزو ده، چې د دې خاؤرې په شونډو ئې تنده پرېښې نۀ ده۔ بيا هم، د اوبو دا پنګه تر ډېره حده پورې بې ځايه توي شي اؤ د لوي مقصد د پاره ترې ګټه اخستلو کښې پښتانۀ پاتې راشي۔
پښتانۀ د پاکستان په کنفېډرېشن کښې دننه اوسيږي اؤ دلته د وسائلو د وېش طريقه کار د پاره د بدلون اړتيا د ډېر وخت نه محسوسولے کيږي ۔ بريښنا چې د پښتونخوا د ټولو نه زيات پېداوار دے اؤ د خپل کور د غوا په شوملو کښې هم پښتانۀ د بريښنا د نيشت ګيلې کوي ۔ دغه لړ کښې اوس په لنډو کښې د پښتونخوا صوبې د وزيراعلی لخوا توانائي کانفرانس رابللے شوے دے ۔ د دغه کانفرانس د ډېرو موخو څخه يوه دا ده، چې هرې صوبې ته دې د هغې د پېداوار د وېش واک ورکړے شي ۔ دا يؤ ډېر غوره ګام اؤ منطقي دريز دے اؤ هيله کوو، چې د پښتونخوا نور سياسي ګوندونه هم په دغه لړ کښې د حکومت مُلاتړ ؤکړي، تر څو دا دوېم خنډ هم څۀ حد پورې د منځ نه ؤويستلے شي۔
راتلونکو ګڼو د پاره به مونږ د پوهانو اؤ څېړکو پښتنو لخوا د پښتونخوا سټاک ايکسچينج په لړ کښې د ليکنو لاره څارو اؤ په خپل بريښنائي درک به ئې هرکلے کوو ۔ هيله لرو، چې خپل راتلونکي کهول ته به د هغوي برخه خُوندي کولو سره خپل مخونه په لاړو کړو۔

# سېلاني وېږې اؤ سېلاب د پښتني جنت نه توري کړي دي

شاهين افريدے

هر چا ته به خپل وطن کشمير وي، خو د پښتنو وطن د جنت برخه ده. سوېلي سيمې، چرته چې ژوند اوس هم ډېر ساده اؤ يؤمخيز دے اؤ چرته چې د ځلمو شونډه شنه شي، نو بيا ئي دياړي اؤ نمرې ګټلو د پاره د لويو ښارونو اؤ نورو صوبو لاره نيولي وي اؤ چرته چې کۀ په خپل کور کلي د اتې اؤ دياړې نه پرته څۀ روزګار ؤ، نو هغه د سېلګرۍ د مخه ؤ. يؤ شمېر سېلګري اؤ سېلاني به د پاکستان اؤ د نورو هېوادونو نه د ګرمۍ د تاؤ نه سر سېوري ته کولو اؤ ژمي کښې د واؤرو د ورېدلو نه خوند اخستلو د پاره دې سيمو ته راتلل



بيا دې جنت اور واخستلو اؤ د سېلګرو پام بلخوا شولو. د ملاکنډ د هسکو غرونو ځولۍ کښې د جنتونو ننداري د پاره تلونکو ته توربان دېره شو اؤ بيا د مري اؤ شکرپړيان د سېلګرۍ ټېکداران و به دا وخت څنګه له لاسه ورکولو.

شوکې، چاؤدنې، ډزې، کوړې اؤ سېلګري؟

د پښتونخوا د سېلګرۍ صنعت دې پېښو هسې هم د برمه پرېستلے ؤ، چې دې کښې د ګورو ځنګلونو په رېبلو فطرت د سېلابونو په ترخ کښې بدل واخستلو اؤ د دغه سيمو ښکلا په کاڼي کاڼي زړۀ سېلابونو کښې ؤبهېدله.



د سېلابونو دغه راتلل هم د سيمې د اولس لخوا د فطرت سره د ښکرو وهلو اغېزه وه. د نور روزګار نيشتوالي د سيمې اولس دې ته تړلے ؤ، چې هغوي د لرګو په خرڅ د خپلو ساګانو غوښتني تر سره کړي. په کومه سيمه کښې چې جوماتونه اؤ ښوونځي رنګ کړے شول، هلته به مونږ د ساېلګرۍ ګيله کولو د پاره چا نه د دووسۍ ژبه په پور اخلو؟

د سېلګرۍ سره د دې سيمو د هنرلرونکي لخوا د لرګي، ؤسپنې، هډوکي اؤ نورو عناصرو نه روغ کړے شوي لوښي اؤ د ورځني ژوند پکارېدونکي نور توکي به هم د اولس د معاش اؤ معيشت لاره وه، چې د سېلګرو د نۀ راتللو سره دغه صنعت هم خپلې ساګانې شمېري. په ډېر لګښت ودان شوي هوټلونه هم يا خو دغه ترهګرۍ کښې رنګ کړے شوي دي اؤ يا هلته اوس د پېريانو کډې دي اؤ دغسې د بدامنۍ څپو دا ښکلي سيمې سپېرې اؤ شړې کړې.

بايد صوبائي حکومت اؤ وفاقي حکومت د امن راتګ سره د دې سيمو د ودانۍ د پاره عملي ګامونه پورته کړي اؤ د سيمې د اولس د پرمختګ اؤ بيا ودانۍ زبار ؤباسي.

# سیکولرازم څۀ دي؟

حبیب یونس سالارزے

لفظ "سېکولرازم" کۀ هر څو په وړومبي ځل برېطاني لیکوال جارج جېکاب هولیوک (1817-1906) په کال 1851ء کښې پکارولے ؤ، خو د دې ځېلې مونږ د تاریخ په اوږدو کښې د یونان اؤ روما د نامتو فلسفیانو اؤ بیا د ابن الرشد په لیکونو کښې په معنوي توګه وینو.

د "سیکولرازم" دوه ډولونه دي

1. ستغ سیکولرازم 2. پوست سیکولرازم

وړومبے ډول په دې معنا کښې دے، چې مذهب دې په یؤ اولسواکه (جمهوري) ټولنه کښې د ریاست په کارونو کښې هېڅ اثر ؤ نۀ لري. د قانون مأخذ دې د وګړي سوکالي وي اؤ د مذهب کرښه دې د وګړو په منځ کښې بېخي نۀ راکښلې کیږي.

دوېم ډول په دې معنا کښې دے، چې کۀ یؤ ریاست د یؤ ځانګړي اؤ جالب مذهب د منونکو په لاس دے، نو هلته دې د نورو مذهبونو اؤ عقیدو لرونکو ته د خپل مذهب اؤ مسلکي عقیدې سره سم د ژوند تېرولو خپلواکي ورکړې شي.

له بده مرغه د سیکولرازم اصطلاح د پښتنو په سیمه کښې د "لادینیت" (Atheism) په معنا کښې د یؤ خاص سیاسي مقصد اؤ مرام د پاره ؤژباړلې شوه. د پاکستان نظریه په دوه قامونو تاده کړې شوه اؤ چې کله د پاکستان د دستور ساز اسمبلۍ وړومبۍ دستوره کېدله، نو د ریاست وړومبي ګورنرجنرال ښاغلي محمد علي جناح د "سیکولرازم" عملي څرګندؤنه ؤکړه اؤ دغسې ئې "جوګېندرناته مېنډل" د پاکستان د وړومبۍ دستور سازې اسمبلۍ چئېرمېن اؤ بیا ئې د قانون وړومبے وزیر ؤټاکلو. اوس د پاکستان د پاره د دوه قامي نظرئیې تبلیغ کوونکو دغه ګام له څۀ جواز موندلے نۀ شو. څۀ وخت وروستو، بیا مېنډل د مشرقي بنګال د هندو مذهب د منونکو د بدې ورځ د پاره احتجاجاً د کابینې د غړیتوب اؤ وزارت نه لاس په سر شو.

د ښاغلي مېنډل د پاره د یؤ داسې هېواد کښې د قانون د وزارت سپارل د وړې ؤچې مسلمانان د مذهب په نوم د ځان له هېواد اخستلو ته پاروونکو د پاره پېغور ؤ. هغوي خپلې تنۍ ؤشلولې، خو بیا تاریخ دغه نوم خوندي کړے ؤ اؤ نن هم د پاکستان اولس د پاره د سیکولرازم تشریح د وخت اؤ د حالاتو په تناظر کښې کیږي.

د نړۍ په ډېرو هېوادونو کښې چرته چې د یؤ مذهب منونکي په ګڼ شمېر کښې وي، هلته د سیکولرازم نوم اخستونکي د لادینیت په نوم زورلے اؤ چقولے کیږي. تش په نوم روښان فکره یورپ ګوري، کۀ د نړۍ د تهذیب کتاب لیکونکې امریکا اؤ کۀ نړۍ سره د اولسواکۍ اؤ خپلواکۍ د معارفي کولو لاپه کوونکې برېطانیه، هر ځاے کښې د ریاست سیاسي مقاصدو اؤ واک تر لاسه کولو د پاره مذهب اؤ سیکولرازم خپلو کښې اغړلے کیږي.

د یؤ مسلمان په حېث زمونږ د پاره د ژوند د ټولو نه لوي ښودونکے حضرت محمدﷺ دے اؤ کۀ مونږ د هغۀ سپېڅلي ژوند ته ؤګورو، نو د نورو مذهبونو سره را ته د رواداري اؤ د هغوي د ژوند، مال اؤ عزت د درناوي اؤ ساتنې ښونه کیږي. په داسې حال کښې سیکولرازم کۀ د هر مذهب منونکي د "لادینیت" په معنا کښې پکاروي، نو هغه د مذهب په نوم تېر کوي اؤ د انسانانو تر منځ کرکې خوربدلو ته نوکونه ټرنګوي.


ISSN201210




## خېبر پښتونخوا بژټ 2012-13

**بهرام اوډيګرام**

دلته مونږ د کال 2012-13 د پاره د پښتونخوا د مالياتو د وزير محمد همايون خان لخوا د صوبې د دوه څلوېښتم بژټ د سرخبرې ليکو:



- د بژټ ټول حجم 303بيلين روپۍ دی
- د کلېزې پرمختلنې پروګرام (ADP) د پاره 97,458
- د پېلئيزې اؤ ثانوي زده کړې د پاره 24.92% ډېرېدلو سره 681.07
- د لوړې زده کړې (Higher Education) د پاره 13.73% ډېرېدلو سره 5,390.62
- د روغتيا (صحت) لړ کښې 10,330.37
- د اولسي ښېګړې د پاره 207.68
- د روغتيا هندسې د پاره 167.03
- د ساتندوئي (Law & Order) د پاره د 24.17% ډېرېدلو سره 23,355.61
- د کرکيلې په اړه 1,238.68
- اوبۀ خوړ په اړه 2,799.91
- ماحوليات 1,117.28
- تماسيزلګښتونه(مواصلات) 2,456.48
- مزدور ښېګړې د پاره 95.27
- معدنيات اؤ کانونه 336.95
- ايکسائز اؤ ټېکسېشن 115.77
- عشر اؤ زکات 117 روپۍ
- تقاعد (Pension) 21,528
- توانائي 72
- برېښنا پېدايښت 6 بيليونه روپۍ
- هنري تعليم د پاره 1.73 بيليون روپۍ
- د سرکاري موظفينو تنخاګانې 83.83 بيليون روپۍ چې د 15%نه20% زياتوالی

دې سره سره به د خيبر بېنک ترلارې هنر لرونکو ته د 50,000 روپېو نه تر 300,000 روپېو د خپل روزګار د پاره پورونه ورکولی شي۔

(روپۍ په "ميليون" کښې)




## د پښتنو لوبې

**اداره**

د پښتنو د سيمې جغرافيائي شُتون اؤ دغسې د دې سيمې فطري موسمونه اؤ د دغې سيلۍ اؤ اوبو په تُرخ کښې وده مودونکې ځاندرې اؤ خويونه ډېر بې وېرې، زړۀ ور اؤ زورَور وي.

د پښتونخوا په پراخه ورشو کښې بې شمېره اولسي لوبې کېږي، چې هغه د ځنې سيمو په منځ کښې د نوک اؤ اورۍ توپېر لري، خو بيا ئې هم اډانه اؤ بنستيزه پېژندګلو يوه ده. د دغه ګڼو اولسي لوبو نه پرته ډېرې نړيوالې لوبې لکه کرکټ، هاکي، سکواش، فټبال اؤ والي بال هم په پښتنو سيمو کښې په مينه لوبولې کېږي اؤ ډېرو پښتنو پکښې په نړيوال شمېر نومونه ګټلي دي.

د خپلو متو په زور وياړمن پښتانۀ تل داسې لوبو د پاره په زړونو کښې ځاے لري، چې هغه د مېړانې اؤ نېغ په نېغه کولې شي. هم دا لوبې د راتلونکي د پاره په يؤ ډول د پښتنو د خويونو اؤ رويو روزنه هم کوي.

دغه لړ کښې مونږ د ګڼ شمېره لوبو نومونه اخستلے شو، لکه: شلغاتي، انګۍ، ټوپ ډنډه، چيندرو، مېرګاتي، کوټکۍ/کوټنۍ، سخے، زمرے، ټپټپارے، شوتے ډمپق، پرزؤنې اؤ داسې نورې لوبې. په دې لوبو کښې د هلکانو اؤ د جينکو د لوبو پېژندګلو داسې کېږي، چې د جينکو د پاره زياتره لوبې د کور دننه کېږي اؤ د هلکانو لوبې په ډُرمتونو اؤ پرانستو پراخه ډاګونو کښې. ځنې لوبې هلکان اؤ جينکۍ په کوچنيوالي يؤ ځاے هم کوي.

مونږ به د وياړ په پاڼو د دغه لوبو يوه ليکلې پېژندګلو خُوندي کولو سره سره د دغه لوبو په شا د ټولنيزې ښېګړې اؤ په راتلونکي کښې کوچنيو ته د پوهې اؤ ځيرکتيا په اړه هم خبره کوو.

## ټپټپارے:

د وړو هلکانو اؤ جينکو دا لوبه په خوړ، رغي نېر (نهر) يا بل داسي ځاے کښې کيږي، چرته چي اوبۀ ډنډ وي. دې لوبه کښې ماشومان دوه ډلي شي اؤ د هري ډلې يوه مشره وي. د لوبې پېل کښې دواړه ډلي يؤ بل ته مخامخ ؤدريږي اؤ د لوبو د پېل نه وړومبې خبري نه اګاهو د راتلونکي خوند احساس سره په هر مخ موسکا اؤ سترګو کښې رڼا اؤ ويار وي.

دا لوبه د تپوس اؤ ځواب په بڼه وي. د يؤ ټولګي مشره د بل ټولګي مشرې نه تپوس کوي، چې

ت: زما چرګه وه تا کره درغلې خور؟

ځ: هو خورې!

ت: تا کره اګۍ ئې اچولې خور؟

ځ: هو خورې!

ت: تا دغه ده ماله ايښودلې خور؟

ځ: نه خورې!

ت: تادغه خپل ځان له خوړلې خور؟

ځ: هو خورې!

ت: ما له دې ترې لړه ده ساتلې خور؟

ځ: نه خورې!

ت: نو زۀ تا سره جنګ ؤکړمه لږ کۀ ډېر؟

ځ: ستا خوښه

"ستا خوښه" سره دواړه ډلې اوبۀ په څپېړو باندې د يؤ بل مخونو ته په زوره زوره ووليي. کوم لوبغاړي چې په شا شي، هغه د ډلې نه ووځي اؤ دغسې په پايله کښې د لږشمېر ډله ؤبائيلي اؤ د ګڼ شمېر هغه بريالۍ شي.

دا لوبه د رغي ځاے د ټاکلو سره په راتلونکي ژوند کښې د احتياط اؤ پاملرنې ښودنه کوي. بيا د هري ډلې د مشر ټاکنه د پښتنو د جمهوريت پسندۍ د پاره يوه بنسټيزه تاده ده، چې راتلونکي ژوند کښې د جرګې اؤ اولسواکۍ د لارې ښوونه کوي.



د تپوس اؤ ځواب په لړۍ کښې د دواړو ډلو د خبرو ډول اؤ د "خور" اؤ "خورې" نومونه په اختلاف کښې هم يؤ بل ته د درناوي ښودنه کوي.

د دې لوبې د تپوسونو لهجه اؤ مطلب ته چې ؤګورو، نو برښېره شي، چې د خپلې برخې تپوس کولو کښې هم ستغه اؤ لواړه لهجه نشته اؤ وړومبے تپوس هم دا کوي، چې خپل مدعي پکښې ؤپېژني. بيا د ځواب راتللو نه پس پوړۍ په پوړۍ خپله برخه/حق پرې شنه کړي. "ما له دې ترې لړه ده ساتلې خور؟" اؤ چې کله ورته ځواب کښې "نه خورې!" ؤويلے شي، نو بيا ورته ؤوائي، "چې تا ترې ما له لړه هم ساتلې نۀ ده، نو بايد زۀ اوس تا د بل د حق خوړلو نه توبه ګاره کړم" اؤ بيا چې څوک په دغه نخښتنه کښې په شا شي، نو د ډلې نه وتونکو پسې بريالي نخښلي نۀ، چې دغسې د بخښنې اؤ عفوې ښودنه پکښې کيږي. د دې لوبې په وخت د مخونو تاثرات هم خوند لري.

**تاسو هم کولے شئ، چې خپله سيمه کښې کېدونکې د لوبو اؤ وړو لوبې مونږ سره د ويار په پاڼه شريکه کړئ. اداره**




## شل اوورېزې اتلولۍ

نهاد خان

په سريلانکا کښې پېل شوۀ شلوريزې اتلولۍ د "سوپر اېټ" په کور ننوتلې دي. د پاکستان د خپل روايتي حريف هند د لاسه لوې ببلات د پاکستان د لوبډلې په حقله دا خبره دروغژنه نۀ کړه، چې په پاکستان هېڅ باور پکار نۀ دے. د غېر محتاطې رويې اؤ غېرسنجيده لوبې له کبله پاکستان سيمي فائنل ته د تللو په ځاے ځان ته لاره اوږده اؤ تر څۀ حده دړکې سره مخ کړه.

اوس چې وياړ ستاسو په لاس کښې دے، نو د پاکستان اؤ اسټرېليا تر منځ اؤ د هندوستان اؤ د جنوبي افريقې تر منځ لوبې به فېصله شوې وي. کۀ د پاکستان ټاپ په اسټرېليا باندې کېږي اؤ د اسټرېليا غوندې لوبډلې له ماتې ورکوي اؤ جنوبي افريقا د سوپراېټ لړۍ دوه برله پسې ببلاتونو نه وروستو د هندوستان مٔلا زمکې ته ؤلګوي، نو بيا خو به پاکستان نېغ په نېغه سيمي فائنل کښې وي اؤ کۀ داسې ؤ نۀ شي، نو بيا به د هندسو د شمېر لوبه وي. زمونږ زړۀ هم دا دے، چې پاکستان نۀ يوازې د دې اتلولۍ فائنل ته ؤرسي، بلکې برياله هم شي، خو د کرکټ په غونډ مونډ ډاګ کښې د اعصابو اؤ د همت لوبه وي، کومه اعصابي مضبوطي اؤ د لوړ همت ننداره چې پاکستانۍ لوبډله کښې ښکاره نۀ شوه.



د واټمور غوندې د ځيرک اؤ هوښيار کوچ نه مونږ دا هيله لرلې شو، چې هغه د پاکستاني لوبډلې په نفسياتي روزنه توجه ورکړي اؤ راتلونکې کښې به د داسې لويو لوبو د کولو د پاره دا لوبډله د خپلو ټولو صلاحيتونو سره مېدان ته ووځي.

دې لړ کښې د پاکستان اؤ هند تر منځه دې لوبه کښې د پروفېسر حفيظ د کپتان په حېث کارکردګي هم د نيوکې ده، چې هغۀ ټوله لوبه کښې په پوندو ولاړ ؤ اؤ يؤ ځاے کښې هم دا ښکاره نۀ شوه، چې هغه يؤ دومره اهمې اؤ لوئې لوبې ته ښېلمه شوے دے. د وېرې اؤ د بې وسۍ د حد پورې محتاطې روېې د پاکستان لوبډله د ماتې سره مخ کړه. دې سره سره د عمراکمل غوندې زړۀ ور لوبغاړے په اووم اؤ اتم پېر لېږل هم د پوهې نه بهر دي. داسې ښکارېدل، لکه چې پروفېسر د دې لوئې لوبې د پاره هېڅ تابيا اؤ هېڅ شمېر نۀ ؤ کړے. هغه په پټو سترګو راغلے ؤ اؤ د تيارۍ ګوزار ئې ؤکړو. بيا هم، کرکټ وېښه لوبه ده اؤ د وېښو لوبه ده.




## د پښتو سُرونه اؤ څېړنه

خیام یوسفزے

پښتو موسیقی کښې ټول دولس سُرونه دي ، پنځۀ واړۀ/کچ سُرونه چې "کومل" ورته وئیلے شي، اؤ پنځۀ غټ سُرونه چې "تیور" ورته وئیلے شي، نو دا ټول لس (10) شو ، یؤ ورسره "کهرج" چې د راګ ابتدا ترې کیږي اؤ یؤ "پا" چې نیوټرل دے.

نوټېشن کښې:

رے ـ ګا ـ ما ـ دها ـ ني [پنځه کومل]

ري ـ ګي ـ مي ـ دهي ـ نا [پنځه تیور]

سا: کهرج

پا : نیوټرل یعنې قائم[ولاړ] سُر دے

ټول دولس سُرونه شول.

سا: کوم ته چې مونږ "کهرج" وایو، لنډ نوم ئې "سا" دے، هر راګ د "سا" نه پېل کیږي ، اؤ په هر راګ کښې ډېر اهم رول لوبوي ..... د خوشحالۍ سره نسبت لري ، د انسان د نامه [ناف] نه راؤځي.

رے: کوم ته چې مونږ "رکهب" وایو، لنډ نوم ئې "رے" دے، دا هم د خوشحالۍ اؤ د سُرور په وخت کښې وئیلی شي اؤ د انسان د زړۀ نه راؤځي.

ګا: کوم ته چې مونږ "ګندهار" وایو، لنډ نوم ئې "ګا" دے، دا سُر د سینې نه راؤځي ، پۀ ځناورو کښې دا سُر د ګډ پۀ اواز کښې زیات محسوسولے شي.

ما: کوم ته چې مونږ "مدهم" وایو، لنډ نوم ئې "ما" دے، بېقراره طبیعت لري، د حلق [تالو] نه راؤځي ، د اکثر مارغانو په اوازونو کښې دغه سُر جوت دے.

پا: کوم ته چې مونږ "پنجم" وایو ، لنډ نوم يې "پا" دے، د قهر ، جبر اؤ جلال تاثیر لري ، دا سُر هم د مارغانو په اوازونو کښې مونده شي . دا نبوتري يعنې قائم سُر دے . د انسان د خُلې نه دا سُر را ؤځي.

دها: کوم ته چې مونږ "دهیوت" وایو، لنډ نوم ئې "دها" دے، د تالو نه را ؤځي اؤ د خوشحالۍ سره ترون لري ، د اژدهې یا مار د اواز سره مشابهت لري.

نا: کوم ته چې مونږ "نکهاد" وایو، لنډ نوم يې "نا" دے، د پوزې نه را ؤځي اؤ د انسان جذبات لړزوي، د وجد سبب جوړيږي او د هاتي د اواز سره نسبت لري. (نور بیا)

## پښتو سي ډي ډرامې:

## د پښتون ژواک رنګين قتل

رئیس کاکړ

د پښتو ډرامې اؤ فلم منځ کښې سي ډي ډرامه ده، کومه چې يؤ نوے فارمېټ دے اؤ د ټيلي فلم لړۍ ورته وئيلے شو. سي ډي ډرامه/ټيلي فلم (لکه څنګه چې د نوم نه څرګنده ده) د فلم غوندې کيسه، ګڼ کردارونه، د کيسې منځ منځ کښې سندرې اؤ بيا کلائمکس لري . د نړۍ د نورو فلمکدو (هولیوډ/بولیوډ) په څېر د پښتو سي ډي ډرامې هم د (لولیوډ) د نګارخانو په څلورو دېوالونه کښې د سي ډي ککوړي د پاره څُوندي کيږي.

کۀ د سي ډي ډرامې کښنوس ته ؤګورو اؤ د پښتنو لخوا دې له وخت ورکولو ته ؤګورو اؤ بيا ئې کيسې، د کردارونو وېنا، د سندرې معنا اؤ د تورسرو نڅا/ګډا ته ځېر شو، نو دومره به ؤوایو، چې بدبخته پښتنه سندره په دومره پراخه اهنګ کښې هم مړغېږنه اؤ په دومره لوي کور کښې هم بې ستره ده. د لاهور د نګارخانې پنجابېې بخې د پښتون کلتور په ګرېوان کښې له وْرايه ښکاري.




ژواکپوهان وائي، چې ډرامه اؤ فلم د يوې ټولنې د ژوند هنداره وي اؤ کۀ د هم دغه تعريف په تُرځ کښې د پښتو ډرامې (دلته به د سرکاري ټي وي ډرامې دې شمېر نه څۀ نا څۀ نۀ ګڼو، خو د نجي خپرۇنو شمېر به هم دې لړ کښې کوو) اؤ فلم (سي ډي فلم اؤ سنېماسکوپ) ته ؤګورو، نو دغه د ژواکپوهانو خبرې ته غاړه ځکه ایښودلې نۀ شو، چې مونږ ته د پښتو ډرامې اؤ فلم کښې د پښتنو د ژوند هېڅ رنګ اؤ غږ نۀ ښکاري. هره قېصه په يؤ سرلیک لیکلې شوې اؤ د هرې ننداري دننه يؤ رنګ نڅاګانې اؤ يوې سندرې اؤ بيا ځاے په ځاے د وسلې ښودنه، د شرابونو باران اؤ د مرګونو بشپړ منظرونه پښتنې ټولنې له کومه معنا ورکوي اؤ د پښتنو راتلونکي کهول ته کومه لاره سموي. دغه لړ کښې څۀ مباشت اګاهو د

ملګري فاروق فراق لیکنه په ټولنیزو رسنیو اؤ ریډیائي څپو خپره شوله، چې د واکمنو اؤ پوهانو سترګې ئې ځان ته راواړولې. په دغه لیکنه کښې د شنه شونډه ځلمو په ژوند اؤ خوبونو د پښتو سي ډي فلمونو/ډرامو اغېزې ته ګوته نیولې شوې ده.

په داسې سي ډي ډرامو اؤ فلمونو کښې د سندرو چوڼ ته ؤګورو، کۀ د قیصې مخ ته اؤ کۀ د دغه قیصې په وړاندې کولو کښې د اداکارۍ رنګونو ته ؤګورو، نو ښکاره برېښي، چې په نګارخانو کښې د رنګونو اؤ اهنګونو نه شا ته د پښتون کلتور اؤ ژوند د وژنې شعوري هڅه روانه ده اؤ د پښتنو ناپوهي دغه لګښت د ګټې سره ورکوي.

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

## د سندرو د هجرتونو موسم

### روزي خان ناز

هاغه غرونو کښې ځنې د وخت سره بوغ شول، ځنې غرونو د دې نړۍ نه سترګې پټې کړې اؤ ځنې غرونه د خپلو ساګانو خوندي کولو د پاره نورو هېوادونو ته لاړل، کومو چې د پښتو سندرې ویاړ اؤ سرلوړۍ ته خپل ژوند سپارلے ؤ. دا زمونږه د ټولو نه لویه قامي بې وسي وه، چې د مرګونو اشر کښې مو د خپلو سندرغاړو ساتنه ؤ نۀ کړې شوه اؤ نن د پښتو سندرې روح ته ټیټ سر ملامته ولاړ یو اؤ د خپل سر وینځلو جواز نۀ لرو.

د مذهب په نوم سندرې ته په مرۍ د لاس ایښودونکو لاس په نشترهال بره ؤ، نو هلته ئې د وېرې اؤ فتوې دېوان دېره کړل اؤ د نشتراباد د نګارخانو تاده ئې کېښودله. نن هم هغوي د دغې پړې نه د ځان سپینولو اړتیا څکه نۀ لري، چې د تپوس کولو خلې ته مخامخ د سر وېره ولاړه ده.



اوس د پښتو سندره هغه مریو ته سپارلې شوې ده، چې هغوي د سندرې د ساګاما نه زیات په خپلو مخونو د رنګونو تپولو، خپل اغوستن پړقینده کولو اؤ د ساښو اوږدولو ته اړم وي. دې حال کښې په اولسي توګه د یۀ داسې خوځښت اړتیا ده، چې هغه د پښتو ساه ورکوونکې سندرې ډاډ د پاره ګام پورته کړي اؤ د سندرې په مخ د تورکو پورې کوونکو مخونو نه پلۀ واخلي.

د سندرې د ژوندي کولو په دې خوځښت کښې باید د قلم لرونکي شاعران اؤ ادیبان هم خپل رول ؤلوبوي اؤ د هغه ملګرو زړونه مات کړي، کوم چې د داسې سندرو د لیکلو په ترڅ کښې د ژبې اؤ کلتور د وژنې تور په سر اخلي، کومې سندرې چې په هر ډول د غندنې اؤ کرکې وړ دي اؤ د پښتنو په ټولنه باندې ګټوره اغېزه نۀ لري.

د لاس بنګړي دي په دسمال ؤتړه، شرنګ ور نۀ کړي
د ښار قاضي د ترنم خلاف فتوه ورکړې
امجد به مړ شي، خو سندره مرګ له نۀ ورکوي
دغه فنکار له مېنې لویه حوصله ورکړې
(امجدشهزاد)




# د پېښور يهوديان اؤ د مشر بلور ږيره

**چغمت**

هسې يؤ تپوس مې کوۀ، چې:

دې پېښور کښې دا يهوديان د کله نه دېره شوي دي اؤ دا ږيره صرف د مشر بلور ښکاره شوه اؤ کۀ ټولې اے اېن پي ږيره پرېښودله؟

يؤ تپوس را نه دوه ځاے شو، خو خبره يوه ده. خداے دې تېري جونړ خبيث اؤ ملعون د هغه چا سره ؤشرموي، چې د مذهب په نوم کورونه، جوماتونه، ښوونځي اؤ حجرې ورانوي . د پاکستان واکمنۍ په ورومبي ځل د نيازبين پېغمبر محمدﷺ د مېنې ورځ نمانځلو غږ ؤکړو اؤ بيا مونږ د نيازبين پېغمبر نيازبين مينه کوونکي ؤليدل، چې لکه د وحشي ښارؤ د پېښور په بازارونو، لارو، کوڅو اؤ سړولو ور مات شول اؤ کوم پېښور چې هسې هم د مذهب اؤ انټرنېشنل لوبې په لمبو کښې سوے سکور اؤ کندې کندې پروت دے، يؤ ځل بيا ژوبل ژوبل اؤ پرهر شو. دا ځل پرهرونه ډېر نيازبين دي، ځکه چې د مذهب د مېنې په نوم دي اؤ هر څو کۀ څرېکې اؤ کريکې ئې د نورو پرهرونو غوندې دي، خو پښتانۀ نيازبين دي اؤ د ناز اؤ نياز ځاے کښې سر ورکولو باندې هم لاس نۀ مروړي.

تپوس مې دا کولو، چې د پېښور په ځاندره د دومره پرهرونو تېري جونړ ته څۀ تاؤ تپ ؤرسېدلو اؤ د نړۍ تماشګيرو به دغه ورځ پېښور سره خواچيني کړې وي کۀ ملنډه؟

د دغه پرېوتي مغربي ګام په ضد يؤ نازولے غږ مشر بلور هم ؤکړو. مشر بلور د يؤ زړۀ ور اؤ ځيرک سياستمدار په نوم پېژندلے کېږي . د پاکستان په سياست کښې ډېر لوي ښکرور هم د مذهبيانو د ډغرې نه ځانونه ساتي. د بلور برادرز ښکر کۀ د مسجد قاسم علي خان په دروازه کښې الشيخ منيب ته ګواښېږي، نو دا ځل ئې د نيازبين پېغمبرﷺ د مېنې په ترڅ کښې د سېلابونو، لوډشېډنګ اؤ بمي چاؤدنو په زوړ کښې لاس پورته کړو اؤ د دغه شاتم اؤ ګستاخ تېري جونړ سر راؤړونکي د پاره د يؤ لکهـ ډالرو په اعلان ئې د خپل نيازبين پېغمبرﷺ سره مينه کښې د ډېرو لويو لويو پټکو اؤ د منبرونو د خانانو نه نمبر يؤړو اؤ د يؤ پوست اؤ عدم تشدد مقتدي هم د مېنې څرګندؤنې د پاره نړيوال ګواښ ته لکه د غر ؤدرېدلو. د برېښنائي ميډيا خيانت هم لږ زيات څرګند شولو اؤ کوم خلق چې د هغوي روايتونو د دليلونو په ځاے ړاندې کوي، هغوي هغه ګڼ پرامن احتجاجونو نه کېمرې کوم خوا نيولې وې؟

د مشر بلور ږيره چې څنګه مونږه ؤليدله، کۀ داسې وي، نو الله دې د هر مسلمان په برخه کړي اؤ پېښور په لمبو کښې سوزوونکو اؤ پښتانۀ وژونکو ته دې الله د روحاني ږيرې توفيق ورکړي.

**(د چغمت خبرې د هغۀ شخصي رائې ده: وياړ اداره)**


ISSN201210

# د عمران خان د وزیرستان مبینه دوره




لیک: سلیم صافي
ژباړه: غلام حیدر حیدر

شمالي وزیرستان د قبائیلي سیمو زړه او جنوبي وزیرستان ئې دماغ دي. مونږ کۀ هر څو د دغې سیمې په مخ ډېر نوکونه راکښل، خو الله ورله بسیاره ښکلا ورکړې ده. زۀ بې شمېره ځله دغلته ورغلے یم او نن هم د د غه سیمو د ښکلا او د سپېڅلي او مینې نه ډک او يؤ مخيز اولس لیدلو ته د پښو په سر ناست یم ، بیا هم د تحریک انصاف د رسنیو ډلې (میډیا ټیم) لخوا هغوي سره د هغوي په ګټو بلنو هم په دغه امن تګ کښې نۀ ځم او چې چا هم دغه بلنې راکړې دي، زۀ هغوي ته د خپلې نه ځواب په دې لیکنه کښې ځاے کؤم . بلنه راؤړونکي هم دغه وائي، چې د قبائیلي سیمو سره ستا زړۀ ډېر ورته دے، نو باید تۀ هم مونږ سره بدرګه شې او زۀ هم دا ځواب ورکؤم، چې زۀ دغه سیمو سره ډېره مینه لرم او د حالاتو او پېښو نه ئې هم لږ ډېر خبر یم، نو ځکه زۀ د امن تګ په نوم د دغه بې ځونده ګناه برخه کېدلو ته چمتو نۀ یم. زۀ د وزیرستان د سویلي او جنوبي برخو تر منځ د حالاتو توپیر نه خبر یم او ځکه د داسې یوې ډلې سره تګ نۀ کؤم، چې اولس سره پچموزې کوي. خداے ګواه دے، چې زۀ عمران خان روغ او ژوندے لیدل غواړم . زۀ د دې خبرې ملګرتیا نۀ کؤم، چې سیاست د پاره دې دومره لوې لاړښود خپل یا د خپلو ملګرو ژوند دړکې سره مخ کړي. ما ځکه په پېل کښې د دې ګام ملګرتیا نۀ وه کړې، خو د انعام الله نیازې غوندې د عمران خان ژباړونکو په دا لاپې کولې، چې هغوي د مرګ نه وېره نۀ لري او بیا د تګ د دغه غږ نه څو ورځې وروستو د پښو واګې د سویلي نه د جنوبي وزیرستان پله راکښلې شوې. مونږ چې د لارې د بدلون تپوس وکړو، نو ځواب راکړے شو، چې د سویلي وزیرستان حالات ښۀ نۀ دي. اوس کۀ د مرګ يؤ نه څوک وېرېږي نۀ، نو سویلي وزیرستان ته ولې نۀ ځي او کۀ خامخا علامتي غوندي تګ په قدرې سولیزه سیمه کښې کوي، نو خیبراېجنسۍ پورې دې لاړ شي . هغوي دا تګ د ډرون بریدونو په ضد بولي، خو مونږ خبر یو، چې تېرو اووۀ کلونو کښې په سویلي وزیرستان کښې 223 او جنوبي وزیرستان کښې76 بریدونه شوي دي. دا وخت خو په جنوبي وزیرستان کښې برید نۀ کیږي، یوازې سویلي وزیرستان کښې کیږي. سږکال کښې په سویلي اړخ 32 او په جنوبي اړخ څلور بریدونهه شوي دي . اوس کۀ دوي ارومرو د ډرون بریدونو په ضد تګ کوي، نو بیا ولې جنوبي وزیرستان او سویلي وزیرستان ولې نۀ؟ او کۀ د زیاتې ځپلې سیمې تګ ضروري نۀ دے، نو بیا ولې د اولس او د امنیتي ځواکونو ژوند دړکې سره مخ کوي او د دې ازمېښت په شا څۀ مرام لري؟ غوره خو دا ده چې عمران خان د اولسمشر یا د هوائي ځواکونو د هېډکوارټر پله لاړ شي او احتجاج وکړي، څوک چې په جا وائي، چې د وس لرلو پرته هم مونږ برید کوونکې ډرون الوتکې راغورځولې نۀ شو. عمران خان څۀ حکیم الله محسود نۀ دے، چې د ډرون بریدونو په ضد احتجاج د پاره امریکا ته تللے نۀ شي. د جنوبي وزیرستان په ځاے به دا غوره وي، چې هغه د ښاغلي جمائمه بې بې سره د

سي ائي اے د هيډکوارټر وړاندې مظاهره وکړي. هغه د امريکې نه امريکائي رابللي دي، تر څو په وزيرستان کښې د امريکا په ضد احتجاج وکړے شي - يعنې عمران خان د بريډکوونکو په ځاے د ځپلو وړاندې احتجاج کوي. کۀ عمران خان هم د دغه رابللے شوؤ امريکايانو سره په امريکه کښې احتجاج وکړي، نو زيات زور اؤ زوړ به وړلي.



اوس ځيرکان ټول د عمران خان سره يؤ کټ کښې ناست دي اؤ هغوي ورته دا ښونه کړې ده، چې ځان سره امريکايان ملګري کړه، نو څوک به دې وهښتۀ هم غوڅ نۀ کړي. کۀ چرې دا امن مارچ د پوځي عملياتو په ضد کيږي، نو بيا هم بايد سويلي وزيرستان کښې وشي، ځکه چې هم دغه سيمه کښې دغه ډول ګنګوسې اوريدلې کيږي. امريکا اؤ افغان حکومت چې د کوم حقاني نېټ ورک خبرې کوي، هغوي هم سويلي وزيرستان ته ګوته نيسي اؤ د نړۍ اندېښنې هم دغه ځاے نه تاويږي. اوس په ټوقه کښې بوقه دا داه، چې د جلسې د پاره د جنوبي وزيرستان منځ ځاے "وانا" نۀ بلکې په "کوټکے" نومې کلي کښې اجازت غوښتلے شوے دے. دا د جنوبي وزيرستان د محسودو هغه سيمه ده، چې دوه کاله اګاهو ترې ټول اولس د پوځي عملياتو له مخه کډه کړې ده. دې ځاے نور محسود ډي ائي خان اؤ ټانک کښې ژوند کوي اؤ د طالبانو پلوي سويلي اړخ ته تلي دي. يعنې دې سيمه کښې د محسود قبيلې څوک هم نۀ اوسيږي. کوټکے د حکيم الله محسود زېږون ځاے دے، ځکه پوځي عملياتو کښې ټول کلے ړنګ کړے شوے ؤ اؤ

اوس د پوځ لخوا دغلته بيا وداني روانه ده. دلته د پوځ د غوښتنې نه پرته څوک راتللے نۀ شي اؤ چې څوک هم راځي، پوځي اجازت سره به راځي. اوس کۀ پوځ اجازت نۀ ورکوي، نو پړے به د پوځ په غاړه کښې وي اؤ کۀ اجازت ورکوي، نو هر سړے به وائي، دا چې ورانه ده، د پوځ نه ده. پوځ به دې ازمېښت نه ژغورلے شوے ؤ، کۀ په داسې سيمه کښې جلسه کېدله، چرته چې ټول په ټوله پوځ نۀ وي. کۀ قبائيلي مشرانو سره خبره کيږي، نو د کوټکي په ځاے وانا سم ځاے دے اؤ کۀ جرګه ورسره کوي، نو پېښور غوره دے اؤ کۀ د طالبانو سرخېلانو سره د خبرې تابيا کوي، نو بيا هم د جنوبي اړخ په ځاے سويلي اړخ زيات اغېزمن دے. زۀ خو په دې منطق کښې څۀ برياليتوب نۀ وينم، خو زيانونه ګڼ وينم. ټولو نه لوي زيان دا وينم، چې په نورو ورځو کښې هم د قبائيلي سيمو اؤ خېبرپښتونخوا امنيتي ځواکونو ته هر وخت د ازمېښت پېړيان په سر وي اؤ داسې جلسې سره چې ټولې سترګې دغه سيمې پله شي، نو د ترهګرو کار به نور هم اسان کړے شي - اوريدلي مې دي، چې د عمران خان اؤ د هغۀ مېلمنو نه د سېکورټۍ درې کرښې تاؤ کړې شوې دي، خو يؤ عام وګړي د پاره دغسې څۀ پرچاؤ نشته. د پاکستان امنيتي ځواکونه دا هسې کوي، چې د نورو برخو نه دغه برخې ته تربيې د پاره د تلونکو اؤ دغه برخو نه د ترهګرو د راتګ لاره بنده کړے شي، خو داسې جلسه به دغه تګ راتګ ته لاره ورکړي. زما خو سر په دې نۀ خلاصيږي، چې عمران خان ولې دې جلسې ته قسم خوړلے دے - ګمان کوم، چې د شاه محمود قريشي، خواجه اصف احمد علي اؤ خورشيد محمد قصوري غونډې د ځيرکو اؤ د حکومتي اقداماتو د پخوانو پلويانو راتللو سره اوس هم د عمران خان "مشاورتي ډله" محدوده ده، ګنې دغه نوموړو به ئې مخه نيولې وه.

WYAARH ADVERTISE

# حمنا پبليکېشنز پښتونخوا

HAMNA PUBLICATIONS

| | | |
|---|---|---|
| د اشنغر مغرور ملنګ | شاعري | غني خان بابا |
| د لبونتوب سندره | شاعري | حيات روغانے |
| هسې | شاعري | اصف علي |
| شمع (اردو/انتخاب) | شاعري | فبض الله خان |
| پښتون | ژباړه | حيات روغانے |
| حياتونه | نثر | حيات روغانے |
| د زوړ انځور | شاعري | تواب ترابي |
| کاڼي (هائيکو) | شاعري | تواب ترابي |
| Terrorism & Islam | نثر | ډ. صادق ختک |
| حسرت زيست | افسانې | اصف حسرت |
| دعا کوه چې سپرلے راشي | شاعري | ساګر يوسف خېل |
| سنت فجر | نثر | مولانا محمد شفيق |
| لوظ | شاعري | سدهبر ساده |
| ښنځک | ناول | حيات روغانے |
| سپرلے دے په لمبو کښې | شاعري | زرين پرېشان |
| ګلونه په شپلونو | شاعري | زرين پرېشان |
| د دوړو لاندې | نثر | اصف علي |

THE MONTHLY WYAARH ASHNAGHAR

# WYAARH ADVERTISE

HAMNA PUBLICATIONS

# حمنا پبلیکیشنز پښتونخوا







حمنا پبلیکیشنز پښتونخوا
د پښتو ژبې د کتابونو او
مجلو د چاپ کولو، خپرولو
او پلورلو په لړ کښې دا
وخت خپل نوم او ځاے لري
کۀ څوک هم دغه لړ کښې د
وخت خپل نوم او ځاے لري
کۀ څوک هم دغه لړ کښې د
خپلو کتابونو د خپرولو
تابیا کوي، نو مونږ د دغه
زیار باسلو ژمنه ورکوو۔













اصف علی

رحمان پلازه (چارسده)

0300 933 9128
0343 965 5035

wyaarh.ashnaghar@gmail.com